2 - FEB 26
Copy 1958

کابل

د ۱۳۳۶ ش کال د عقرب (۱) ۱۳۷۷ ق کال د جمادی الاول (۳۰) د ۱۹۵۷ ع کال د اکتوبر ۲۴

Oct-24, 1957

پەدې گڼه کښې :

پەمیمنه کښې * دژبې او ادب توپیر

سرد کېدې زار * پەادب کښې د...

مرور اشنا * دبې وزلو ژوند * راغلی لیك

شهیدان * تاریخ کله او څنکه * کتاب:

د جبران خلیل اثر . و لولیء

پر لەپسی گڼه ٤٤٣

په میمنه کښې زمالیدنې او کتنې

زه د میزان پر (۷) د سهار پر (۷) بجو د میمنې د ښار وال د بلنې په اثر د خپلو ملګرو سره (چه مطبوعاتي هیئت باله کېده) دالوتکې په ذریعه د کابل څخه د میمنې پر لور روان شوم زما د اسفر دالوتکې په واسطه لومړنی سفر و، چه ما ته میسر شوی و. ما نور سفرونه هم کړی و، مګر دلارۍ او چابک ګاډی په واسطه خو د اسفر له هغو نه د تسهیلاتو پر بنا ممتاز ؤ. پر لار د ګران هیواد لوی لوی غرونه سمسور باغونه، سیندونه او هر هر ځای ښکارېده چه همدې ښه منظر زه ډیر محظوظ کړی وم خو دا چه د همدې خوند سره لږ شانته بې خوندی هم ملګری وه هغه دا وه چه زمونږ د آریانا الوتکې دا کسیجن دور کړی آلات نه لری او په همدې سبب ئې پر همدغو لوړو غرونو په هغه اندازه ارتفاع ته شوای کولای چه د غرونو سره ئې د تصادم خطر له زړه نه لیری کړی وای یعنی د هوا پیمایۍ پر ځای ئې دره پیمائی کوله. خیر مونږ د یوه ساعت او پنځو دقیقو نه وروسته د مزار تر هوائی ډګر پوری ورسېدلو. شل دقیقی هلته وقفه وشوه وروسته بیا الوتکې په هوا پرواز وکړ او پرواز. ځکه د وزر د خلاصېدلو سره سم تقریبا د څلور سوو فټو د ارتفاع نه وروسته دا لوتکې له کړکۍ نه د آب شار پر ځای «تېل شار» ولیده شو یعنی د تېلو د تانکۍ د نه تړلو په اثر تېلو مستی وکړه او دا مستی په همدې وخت کښې مطبوعاتي نمایندګانو و نه شوای زغملای. هغه و، چه کپتان ته عرضی ورغلل. کپتان دا عرض و مانه او ژر ئې الوتکه کښته کړه او تانکۍ ئې وتړله. اوس نو د بې احتیاطۍ ځای احتیاط و نیو او مونږ هم د میمنې خوا ته روان شو. پوره یو ساعت وروسته میمنې ته ورسېدلو او تو دې پزیرایۍ زمونږ ستړیا لیری کړه، مونږ هوټل ته ولاړو معرفی شولو یو او بل ته وپېژندل شولو موزیم، مطبعه، د ستوری د جرېدې مدیریت د ستوری د (۲۴۲۵) شمېر طبع، رادیو، د تلګراف کوټه، د دیزلی برق پخوانۍ دستګاه د دیزلی برق نوی دستګاه چه (۲۵۶) کیلوواته برق ئې ورکاوه. ملکی شفاخانه، ظاهرشاهی مدرسه، د کتابخانی تعمیر، جامع مسجد، زراعتی فارم د ابوعبید جوزجانی منځنی ښوونځی. د سیف الملوک سینما، محبس. نور جوړ کړی ځایونه ولیدل شول چه دا کتنه اولیدنه په لمړۍ روځ وشوه یعنی په لومړۍ روځ مونږ ته د همدې ځایونو کتنې دا هیله پیدا کړه چه په میمنې

پاته په دننه پشتۍ کښې

(۲۷ کال) (۱۳) گڼه

کابل

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

د امتیاز خاوند: پښتو ټولنه

د پښتو ټولنی مشر : گل پاچا ، الفت ،

مسئول مدیر م، د، « ژواك »

پته : کابل نادر پښتون واټ دیل خشتی دیله مقابل د تیلفون لمبر (...)

د ۲ پشتۍ پاته

کښې حرکت موجود دی او دژوند دښه والی دپاره هڅه شته ځکه داشیان ټول تقریباً
په دوو کلونو کښې دیوه رنګ څخه په بل رنګ شوي و او یا نوی میدان ته راوتلي و
چه دهمدې نویو شیانو څخه یوه سینما وه چه کار ئې سرته رسیدلی او اوس چالانه
وه په همدې شان زراعتي فارم او موزیم یا نور تعمیرونه نوی جوړ شوی او په دوهمه
ورځ (دمیزان په ۸) مونږ دیل چراغ د کښې دپاره ولاړو چه هلته ئې تهداب
ایښوول شوی دی دې پله ددرو نورو پلونو ضرورت له منځه وړ او یو کروه
لار ئې لنډه وله یعنی له همدې لاری نه د کاڼی سکاره دمزار شریف خواته
وړل کیدل او په همدې شان هغه نوی کان چه د «آی شیل» په نامه تر نظر لاندی و
دهغه دپاره هم د مزار پرخوا لار لنډیدله دالار دمزار خواته داند خوی ترلار
یو کروه لنډه وه وروسته دهمدې پله دتهداب ترکتنی دزنګ ددرې خواته وخوځیدو
ددې درې یوازینی خصوصیت دادی چه دفلم اخستلو دپاره یو فوق العاده مزیت
لری په زیاته بیا دهمدې درې هغه آبشار چه تقریباً دسلو فیټو له ارتفاع نه دپاڼ
له منځه راوزی او په ډېر یو عجیب هیبت سره د سپینو زرو د ځولۍ په شان
راپله شوی دی ـ ددې آبشار مثال په ټول هیواد کښې یو بې ساری منظر دی په
دریمه روځ (د میزان پر ۹) دنادم په نامه سړك او دسرحوض هغه بند ولیده شو
چه اساساً دجرنیل غوث الدین له خوا جوړ شوی او ټوله میمنه او اند خوی
پرې ودان دی مګر اوس دهغه بند دپاره یوه پشتۍ ورکړی شوې ده او د پنځو
مترو په ارتفاع ئې په لوړ والی زیاتی راغلی دی یا داچه دمیمنی دژوند دپاره
ئې نوې روح بخښلی دی په څلرمه روځ (دمیزان پر ۱۰) مونږ د نمکسار
سیل ته ولاړو دادمالګی کان دقدرت یوه ډیره بېساری عطیه ده چه د ګران
هیواد دسیمه پرې اباده ده خو داچه ددی مالګی نه نور هیواد نه دی فیاضه شوی دا ځکه
چه دحمل او نقل وسایل نشته ددی کان مدیر وویل چه ددې مالګی دپاره پوره
ترتیبات په نظر کښې نیول شوی دی چه دې زیری زما زړه خوراخوښ کړ او په
داسی حال کښی چه اوس اوس یوه تحویلخانه لاهم د مالګی د ضیاع په غرض
نه وه موجوده ـ دوی ویل چه پخوائی حال نور هم خراپ و مګر اوس ئې حال څه
ښه شوی دی ـ دمدیریت دمعلوماتو سره سم دامالګه په سل کښې پنځه اتیا خالصه
مالګه ده چه نوره مالګه داډول خالص والی نه لری.

له همدې ځای نه داند خوی ښارته ولاړو چه له هره حیثه دلیدنی وړ و ـ

پاته په ۳ پشتۍ کښې

دژبي او ادب دفلسفي يو لنډ بحث؛

ښاغلی حبیب الله «تېزی»
د ادبیاتو دیوهنځی لسانسه

دژبی او ادب توپیر

که څه هم په دې برخه کښې چه ژبه څه شی ده او ادب څه ته وایی ؟ ډیری زیاتی څېړنی شوی او داهم ویل شوی دی چه ژبه دانسانانو ترمینځ دیوبل دپوهولو اوراپوهولو آله یاد افکارو دښکاره کولو وسیله او ادب په ښو الفاظو سره دافکارو او خیالاتو لیکنه ده مګرزه په دې مقاله کښې لږ څه، د خلکو خبره، فلسفې ته ورننو ځم او دژبې او ادب دفلسفې له مخې په دې باندې غږ ېږم چه ژبه او ادب څه توپیر سره لری ؟

کله که سړی دښارنه لږ څه لرې، په هغو ځایونو کښې چه کلالانو دخپلو لوښو (لکه ګړی، خاوری او نور) دپخولو دپاره پجې (داش) جوړی کړی وی ددغو لوښو داومو، موادو په برخه کښې لکه خاوره یا ختمه لږ څه فکرو کړی، ډېر ژر به دې خبرې ته ورسیږی چه هلته دغه مواد څه «ارزښت» نه لری اما کله چه لوښی ورڅخه جوړ شول، دومره «ارزښت» پیدا کړی چه د کلال د کاله ژوند هم ورباندې جوړ شی .

داولی ؟

داقتصاد پوهان ددې پوښتنی په ځواب کښې وایی :

ځکه چه دخامو یا لومړنیو موادو (مواد اولیه) سره «کار» او «مصرف» یو ځای شوی او کلال خپل یو څه مهال هم پرې بایللی دی .

دوی وایی :

د کالی ارزښت = لومړنی مواد + کار + لګښت + وخت (۱)

البته په دې ځای کښې دذوق مسئله هم دیادولو وړ ده چه په «ارزښت» باندې اغیزه لری یعنی د کالی دارزښت دلوړېدو او ښکته کېدو سبب ګرځی، خو په دې ډول چه ذوق پخپله هم دمادی محیط زېږنده او محصول وی.

مګرزه دخپل برغه (مقصد) د سرته رسولو دپاره د پورته پوښتنې په ځواب کښې وایم :

کله چه د کلال دلوښو جوړولو، لومړنی مواد چه یو ډول ځانته مواد دی، ترځانته شرائطو لاندې په ځانته ځای او مهال کښې یو ځانته ډول ترکیب د ځان دپاره غوره کړی، یو ځانته خاصیت یا امتیاز پیدا کوی چه همدغه خاصیت یا امتیاز د دغو لوښو دارزښت دتاکنې عامل دی .

(۱) مطلب دوخت څخه دلته هغه مهال دی چه دیوه کالی په جوړولو تیریږی.

دغه ډول کله که یوې ګړۍ ته لږ څه ځیر شو، نو به دا خبره ډېر ژر را ته څرګنده شي چه ګړۍ ورو سته د خپل خاصیت، ګردښت، د پیدا کولو څخه د ګړۍ ارزښت پیدا کوي نه دا چه یې اولیه مواد یا پرزې له آره دغه ارزښت لري یا په بل عبارت کله که مونږ یوه ګړۍ ټوټې ټوټې کړو نو به سمدستي دغه ګړۍ خپل خاصیت او بیا خپل ارزښت دلاسه ور کړي اما په دې شرط چه بیا د دغو ټوټو د یو ځای کولو هیله نه وي راسره.

دغسې کله که هر څه پرېږدو او پخپله دانسان تنه دمادي پوهانو د ګروه (عقیده) سره سم تر غور لاندې و نیسو هلته هم دا خبره دو رایه دمنلو وړ ښکاري چه: دژوندي جسم خاصیت یا ساه (روح) هغه ځانته خاصیت دي چه د یو شمیر ځانته عناصرو د ځانته ترکیب او تنظیم څخه په ځانته ځای او مهال کښې پیدا شوي دي.

یعنی، کله چه یو شمیر عناصر لکه آکسیجن (O2) کاربن (C) هایدروجن (H2) نایتروجن (N2) سلفر (S) کیلشم (Ca) پاسفورس (P) پوتاشیم (K) کلورین Cl2 سوډیم (Na) مګنشیم (Mg) اوسپنه (Fe) آیودین (I) لږ څه فلورین (F) او سلیکن (Si) چه په طبیعت کښې په آزاد ډول سره موجود دي تر ځانته شرائطو لاندې په ځانته ځای او مهال کښې په ځانته ډول سره ترکیب شي، یو ځانته خاصیت پیدا کوي چه هغه خاصیت ساه او یا انساني امتیاز دي.

د دې دواړو پورته خبرو څخه دا اخستنه کوو چه د ګړۍ، سړي او ګړۍ ارزښت په لومړنیو موادو کښې نه دي پروت بلکه دارزښت سبب یې هغه ترکیب او تنظیم دي چه تر ځانته شرائطو لاندې یې په ځانته ځای او مهال کښې د ځان د پاره غوره کړي دي.

ځکه د ګړۍ، سړي او ګړۍ لومړني مواد کله رټ څه ارزښت نه لري او کله هم تر ځانته شرائطو لاندې ارزښت پیدا کړي، مګر دومره ارزښت چه د سړي، ګړۍ او ګړۍ په برابر کښې د پرتله کولو څه چه د یا دولوړ هم نه وي.

دادي اوس را ځم خپل مطلب ته او ګورم چه دوبل شو یو مثالونو یا خبرو څخه د ژبې او ادب د توپیر په برخه کښې څومره ګټه کولای شم.

زه خو وایم چه د ژبې او ادب توپیر کټ مټ هغه توپیر دي لکه د لومړنیو موادو او ګړۍ، سړي یا ګړۍ تر مینځ چه پروت وو ځکه زه ادب د ژبې یو ځانته ترتیب یا تنظیم شوي بڼه او پخپله ژبه لومړني مواد بولم. زه وایم چه ادب هم د ګړۍ یا ګړۍ په شان د ژبې یو ځانته ډول دي چه تر ځانته شرائطو لاندې ئې په ځانته ځای او مهال کښې یو ځانته

ترکیب او تنظیم دځان دپاره غوره کړی او یو ځانته خاصیت یا امتیاز ئی موندلی دی چه همدغه خاصیت یا امتیاز دادب دارزښت سبب شوی دی. یا په ډېر لنډ ډول سره دژبې او ادب توپیر داسې کوم: ادب دژبې یوه ځانته بڼه ده چه ارزښت لری، او ژبه ارزښت نه لری. مګر په هغه شرط او تناسب چه مود ګړی، سړی او ګړی په برخه کښې وتا که داد دې دپاره چه خبره ښه پوره څرګنده شی نو دادب او ادبیاتو دتاریخی خبرو څخه هم څه نه څه دلته لیکم او داښکاره کوم چه دژبې په تاریخ کښې دادب ارزښت تر کوم ځایه پورې دی.

کله چه زه دپټې خزانې پاڼې اړوم، ددې خبرې سره تل مخامخ کېږم چه شاه حسین (زېږېدنه: ۱۱۱ هـ) ملازعفران ته سره له ټولې ټولنې ددې خبرو (ځانته خبرې یا بیتونه) په بدل چه:

دحسین پادشاه دبخت ننداره ګوره
چه بې فتح په لښکرو ژوب او شال کا
چه دازېری بې راوړی دی حضورته
نو زعفران انعام په سرزعفرانی شال کا
ډېر ښکلی زعفرانی شال ورکړ. (۱)

ریدی خان هم په همدې دربار کښې دڅو خبرو (محمود نامې) دلیکلو په بدل زرطلاوی اخلی، (۲) مګر هغه نور بې شماره خلك چه دشاه حسین په عصر کښې بې

(۱) پټه خزانه مخ ۱۱۳
(۲) پټه خزانه مخ ۱۳۷

ژوند کاوه او ژبه بې لرله، دیوه خبرو ته هم دخبرو په حیث څه توجه یا اعتنا نه ده شوې.

ځکه دملازعفران او ریدی خان خبرې په ادب او دنور وخلکو خبرې په ژبه کښې راځی.

دغه ډول کله که داحمدبن عمر نظامی عروضی سمرقندی (ژوند ـ ۵۵۰ هـ) دمجمع النوادر یا چهار مقالې پاڼې وپلټل شی نو به ددغه کتاب په دوهمه مقاله کښې چه دشعر دعلم دماهیت او دشاعر دصلاحیت په باره کښې لیکل شوې ده، ډېر ژر دامطلب ولیدل شی چه سلطان یمین الدوله محمود، دعنصری خوله ذلاندې بیتونو په ویلو درې پلاله جواهرو څخه ورډکه کړه:

کی عیب سرزلف بت از کاستن است
چه جای بغم نشستن و خاستن است
جای طرب و نشاط و می خواستن است
کار استن سرزپیراستن است (۱)

بیا په دغې مقاله کښې لیکی چه ابوالمظفر فرخی ته

(۱) چهار مقاله دد کټر معین پامقدمه، تصحیح او تحشیه دتهران چاپ ۱۳۳۳ مخ ۵۷

د داغگاه د بوللې (۱) په ویلو چه مطلع یې داده :

چون پرند نیلگون بر روی پوشد مرغزار
پرنیان هفت رنگ اندر سر آرد کهسار

یو پسوللی آس، دوې خیمې، درې کچرې، پنځه مریان او داغوستلو او غوړولو جامی ور کړې... او کار بې دې ځای ته ورسید چه شل دسپینوزرو په ملاوندنی ملا تړلی مریان بې څټ ته کښېناستل. (۲)

اوس نو دیو رته خبر و له مخې په زغر ده ویلای شو چه د دغو پاچاهانو د پاچاهۍ په مهال کښې زښت ډېر گړېدونکی وو مگر هغه څوك چه دخپلو خبرو او یا گړېدلو په بدل کښې ئې دغه انعامونه واخستل، عنصری او فرخی ؤ. ځکه د دوی خبرې یو ځانته ډول خبرې وې چه مونږ بې ادب بولو. یا په بل عبارت دفرخی او عنصری خبرې مونږ له دې کبله ادب بولو چه ارزښت لری.

دغسی کله که بېل بېل مهالونه په ستر گوو لرو او د هر مهال د تاریخ پاڼې و پلټو هلته به هم دا حقیقت دورایه راته وبرېښی چه : په هر مهال کښې د بې شماره گړېدونکو د ډلې څخه یوازې د څو تنو خبرې پاته شوی او تر ننه پورې را رسېدلې دی. چه علت بې ادبی امتیاز دی، د نورو خلکو د خبرو او یا ژبی څخه. ځکه د دوی خبرې هغه خبری دی چه تر ځانته شرائطو لاندی په ځانته ځای او مهال کښې یو ځانته ترتیب او تنظیم د ځان د پاره غوره کړی او ارزښت بې موندلی دی.

مثلاً د غوریانو په عصر کښې د پښتو ویونکی ډېر زیات وو مگر هغه څوك چه خبرې ئې د هغه وخت او یا نورو لیکوالو په ډېره لمانځه لیکلی او تر مونږ پورې هم را رسېدلی ښکارندوی او شیخ اسعد یا د هغوی امثال دی نه هسی وگړی.

د چهار مقالې لیکونکی په دې باره کښې لږ څه پر مخ ځی او وایی چه د پاچاهانو د لښکرو گنجونو او خزانو نښې نه پاته کیږی، مگر د هغه وخت د شاعرانو خبری د تل د پاره پاته وی چه د دغو پاچاهانو، نومونه هم پکښې ساتل کیږی. لکه دا چه شریف مجلدی گرگانی وایی :

(۱) دابولله دفرخی هغه مشهوره بوئله ده چه دعمید اسعد په غوښتنه ئی د داغگاه په باره کښې ویلی ده. داغگاه هغه ورشووه چه ابوالمظفر چغانی به هر پسرلی دخپلو اسونو او اسپو د داغولو د پاره هغه ځای ته تللو. ځکه وایی چه ده اتلس زره اسپې لرلې. عروضی دعمید اسعد له خولې نه داغگاه داسې ستایی :

« ... داغگاه عظیم خوش جایی است، جهانی در جهان سبزه بینی، پر خیمه و چراغ چون ستاره، از هر یکی آواز رود می آید و حریفان در هم نشسته و شراب همی نوشند و عشرت همی کنند و بدرگاه امیر آتشی افروخته چند کوهی و کره گان را داغ همی کنند، و پادشاه شراب در دست و کمند در دست و دیگر شراب میخورد و اسپ می بخشد. » (چهار مقاله مخ ۵۹-۶۰)

(۲) همدغه چهار مقاله مخ ۶۵

از ان چند ان نعیم جاوید انی
که ماند از آل ساسان و آل سامان
ثنای رودکی ماندست و مدحت
نوای باربد ماندست و داستان (۱)

بیاوائی: ډېر داسی باچاهان تېرشوی دی چه دوخت دلوړو ماڼیو، سترو بنګلو اوزړه وړونکو باغونو نښی ئی هم نه دی پاته بلکه واړه له مینځه تللی او په دښتو او بېدیاوو بدل شوی دی. مګر دشاعرانو خبرې یی ترننه پوری پاته دی، لکه داچه دی پخپله (عروضی) دسلطان محمود، دربارته ګوته نیسی اووایی:

بسا کاخا که محمودش بنا کرد
که از رفعت همی بامه مرا کرد
نه بینی زان همه یك خشت برپای
مدیح عنصری ماندست برجای (۲)

په دی برخه کښې پخپله چندیان (شاعران) هم دخپلو خبرو په ارزښت پوهېدلی او په ډېره زغرده سره یې خپلې خبری دپاچاهانو دماڼیو سره برابرې کړی دی لکه داچه رحمان بابا وایی:

پادشاهانو که قصرونه کړل آباد
ما د عشق عمارتونه کړل بنیاد

یا داچه فردوسی پخپله شه نامه کښی وایی:

برافګندم از نظم کاخ بلند
که از بادو باران نیابد گزند

دلته دا خبره هم بایدوشی چه په پورته خبرو کښې زما مثالونه ډېر دشعر په برخه کښی وو، او ددې کار علت هم په پاړسو او پښتو ادب کښې دشعر له اندازی زیات اهمیت دی، نه داچه ادب یوازې شعر دی. ځکه په دی لړ کښی کولای شو چه د «کلیله او دمنه» نثر ته هم ګوته ونیسو. د دغه کتاب «کلیله او دمنه» نوم له آره پنځه تنتره (Paneatantara) او کتاب ددریمی میلادی پیړۍ هغه (کتاب) دی چه دخسروانو شیروان په وخت کښې دسانسکریټ څخه په پهلوی اړول شوی دی. او ددوو شغالانو په نامه کره تکه Karataka او دمنکه Damanaka په پهلوی کښې کلیلك او دمنك او په پاړسو کښی کلیله او دمنه - یادیږی. (۳)

دغسی هم په فرانسوی کښی «بالزاك» Honorde Balzac د «بشری مضحکی» دلیکونکی (۱۷۹۹-۱۸۵۰) په انګلیسی کښی د «تاکری» Williamthackeray د «لاپود بازار» دلیکونکی (۱۸۱۱-۱۸۶۲) په روسی کښی د «داستایووسکی» Fedor Dostoievski (۱۸۲۱ - ۱۸۸۱) آثارو ته ګوته نیولای شو. (٤) مګر له بده مرغه پښتو په دې برخه کښی ترننه پورې هم دومره کمزورې ده چه ماته یی کوم دیادونې وړ اثر نه دی ښکاره. خوسره له دی هم کولای شو چه په کوزه پښتو نخوا کښې

(۱) همدغه چهار مقاله مخ ٤٤ (۲) همدغه چهار مقاله مخ ٤٥-٤٦ (۳) دښاغلی پورد داؤد مقاله چه ښاغلی معین په خپله مقدمه کښی را خستې ده. (٤) دامریکا ادبیات د «ژرك فرنان کائن» د پاریس دپوهنتون داستاذ لیکنه. مخ ٦٥.

هلته نن دی بر خې ته توجه ډېره او څه نه څه ښه شوی ده) د ننني لیکوالو څخه دمیر مهدی شامهدی آثاروته گوته ونیسو او په دغی لاره کښی یې دیوه لومړی گام په توگه ډېر ښه او په عمومي ډول یا د ننني ناول لیکنی په لحاظ ابتدائی آثارو بولو.

دپورته ټولو خبرو په پای کښی د نتیجې په توگه زه ادب دژبی څخه داسې بېلوم او وایم

ادب د ژبی هغه ځانته بڼه ده چه - تر ځانته شرائطو لاندی ئې په ځانته ځای او مهال کښی یو ځانته ترتیب او تنظیم د ځان دپاره غوره او دژبی څخه یې یو ځانته امتیاز پیدا کړی وی. یا په بل عبارت ادب عبارت دی دژبی دیوی ځانته بڼی څخه چه ارزښت ولری. مگر ژبه عبارت ده دهغو غږونو څخه چه انسانان یې په مرتب او منظم ډول سره، دخپلو مطالبو افکارو او احساساتو دښکاره کولو د پاره په عادی ډول سره د خولې څخه راباسی او ارزښت نه لری (۱)

نوله دې کبله زه د ادب په تعریفاتو کښې دیوه امریکائی معاصر پوه دا تعریف غوره بولم او دلته ئې را اخلم چه:

ادب هغه سم، مهذب شوی او صنعتی بیانونه دی چه دانتقادی علومو تر سیوری لاندې وی، او دافکارو دښو څرگندولو او ښکاره کولو او ښکلا او ښایست له کبله ارزښت ولری. (۲)

اما دلته دا هم باید وویل شی چه د ادب د ارزښت لوړېدل او ښکته کېدل دهغه څه په اهمیت پورې تړلی دی چه ادب دژبی څخه بېلوی. یا په بله ژبه د ادب د ارزښت لوړېدل او ښکته کېدل تړلی دی په «کار»، «مهال» او «لگښت» پورې. نوله دې کبله دادب ارزښت هم «کالی» دارزښت په ډول دیوه لنډ فورمول په توگه داسی ښو دلای شو:

دادب ارزښت = لومړنی مواد (۳) + کار + (٤) - مهال (٥) + لگښت (٦)

په پای کښی دا خبره دیادولو وړ بولم چه مادغه مسئله تراوسه پورې نه د خاتیځ د پوهانو په لیکنو کښې لېدلی ده او نه د لوېدیځ توځکه یې خپل ابتکار بولم او وایم چه که زمادغه فکر نیمگړی وی، پوهان به یې کره او پوره کړی. (۷)

---

(۱) دژبی وېش بله موضوع ده او په دی ځای پورې اړه نه لری. (۲) د امریکا انسایکلوپیډیا، ټوک ۱۷ مخ ٤۷۲ (۳) عادی ژبه. (٤) ترتیب، تنظیم، تخیل او تفکر. (٥) هغه مهال چه ادیب یې له ژبی څخه دادب په جوړولو باندې تېروی. (٦) هغه څه چه دادب په لاره لگیږی.

(۷) د فورمول نه وروسته دا خبره راڅخه پاته شوه چه د کالی د ارزښت په دود، د ادب په ارزښت کښې هم دذوق مسئله زښت ډېر اهمیت لری چه باید په نظر کښی وی، ځکه ادب هغه چاته ارزښت لری چه دهغه ادب په نسبت د سلیم ذوق خاوندوی.

دښاغلی جالوان په قلم:

سر د ګیډی زار

د مجلس یاران په حجره کښې راغونډ شوی د خوراك او ګیډی په مسله ډیر خوندور بحث روان وو چه څومره خولې هغه هومره خبری. او خوله هم د هر چا خپله وه. چنانچه یو تن په کښې وویل - تاسو ته خو معلومه ده - چه د کابل په هوا کښې بنده ډیر وږی کیږی. اشتهائې ډیره تیزه وی - او بنده لا د دستر خوان نه پاڅېدلی نه وی - چه بیا وږی وی. او دا ګیډه خدای خبر د نظره شویده، او که ګیډې ته مې چا آزار کړی دی چه په یو وخت د کابل دوه تنوری ډډۍ وخورم، نو بیا مې هم سا پرامانه شی نه وی. او وایم چه دوه مې نورې و خوړی نوایله جامه قدر به مې ګرمه شی، په ځان مې په دې وجه اوس دا ګمان راغلی دی - لکه چه د ګیډې حاجی شوی یم، انور خان غوښتل چه د خپلې ګیډی په ثناء صفت کښې نور څه هم ووائی.

چه ریدیګل د بحث میدان ته راودانګل او په خندا خندا کښې ئی انور ته وویل:

اشنا بده ئې مه ګڼه. ولی مشرانو ویلی دی - چه دروغجن سړی چرې هم په ګیډه نه مړیږی خدای مې دی غاړه نه نیسی، خو مالومیږی، چه ته د جهان دروغجن ئې او هم داوجه ده، چه ته په ګیډه چرې موړ شوی نه ئې دریدیګل په دی خبره اوریدو د مجلس یارانو د خندانه بق وهل او انور غریب له ډیره شرمه لکه د بګیل مړز یو خوا ته غلی کښېناست په مجلس کښې نا ګمانه خوریدونکی علې غلیا ته په کتو ظریف بابا مسکی شو، او وئی ویل ځلمو! تاسو ټولو لکه چه د بکر په تال ځنګیدل را خستی وی، دا د ځوانانو په محفل کښې دا د یری پشان چپه چپیا زما ډیره بدې شی، تاسو په انور غریب پوری ولې پښاړی راخستی دی - د ګیډی ماشین به ئې قوی او هاضمه به ئې تیزه وی - او که په دی وجه زر زر وږی کیږی او ډوډۍ ډیره خوری نو دا څه بده خبره خو نه ده - حالانکه ایمانداری خو داده - چه ډوډۍ مونږ ټول ډیره خورو خو څرك حال وایې او څوك نه - البته د ګیډې حاجی توب دومره ښه نه دی چه بنده دی سر د ګیډی زار کړی په دی کښې ریدیګل د ظریف بابا نه تپوس وکړو چه بابا د دې سپینې زیری بلا دی واخلم تا ته دا سی هم څرك مالوم دی -

چه سر ئی د گیډی زار کړی وی -
ظریف بابا وویل - مالوم خوراته ډیردی
ولی نن به درته دتنگی د خان کریم
خان کیسه وکړم - چه مشر ځو ئې
عملا خپل سر د گیډی زار کړو -
خدای دې و بخښی. د خان کریم خان
پلار خان سلیم خان دغیرت پښتو او د
لوړ پښتنی خو یونو یوه ټوټه وه - د هغه په
پښتنې اخلاقو که به بنده هر څو مره
فخر او ویاړو کړو - خو بیا به ئې هم
څه سود نه کیده. د سلیم خان دسترخوان
به د کال دولس میاشتی غوړیدلی و -
نغری ئې چری سوړ شوی نه و - په
حجره جمات - لاره کوڅه - او کلی
ولس کښې به هر چا - لوی وړو کی
زنانو او نارینو - شته مند او نیست مند
دخان سلیم خان دسخاوت او اوی زړه
صفتونه کول - او کله کله به په
کښې یو تن نیم داهم وویل چه د حاتم
د سخاوت کیسی، قطارې خو ډیرې
مشهورې دی - ولې زمونږ یقین دی چه
د حاتم روح به هم د خان سلیم خان
سخاوت ته وپسخېږی او ددی وجه دا وه
چه هیڅ یو حاجتمند چری دخانصاحب
د کوره تش لاس تللی نه وه - د پښتو نخواه
د هر یو گوټ خلك به په مخه
د خان سلیم خان کور ته راچلېدل
پښتون هر څوك چه به و خو چه

دخان بابا دیری ته به ئې ځان راورساوه
نو بس د هغه دارمانو نو کشتۍ به
بیا د امید په ساحل لیگدلې وه او د
خان بابا په دیره کښې شام مدام
دراغونډ شویو خلکو زور ته به چه بنده
وکتل، نو داسی به ئې محسوس کوله
لکه چه دیو نامتو پیر او فقیر په زیارت
یوه زور وره میله لگیدلې وی خان
سلیم خان څه دبرکت خاوندو - که
حاکم و او که محکوم - که سوداگر
وو - او که کسب گر - که خان و
او که ملنگ - که مامورؤ او که رئیس
خان سلیم خان دهرچا د زړه پاچا و -
ولې پاچاهی د ټول عمر دخدای ده - خان
سلیم خان دپښتون دغم ژړلو دپاره ژوندی
وه - اوهم په دی غم کښې ئې ساه ورکړه
دهغوی دمرگه پس دخانۍ پټکی دهغوی
دمشر ځوی په سر ووهلی شو - ولی پښتانه
متل کوی چه سل دی و مره - او یو
دې مه مره!

دخان سلیم ن خا په مرگ دهغه په مال او
دولت شتو او دخدای په ورکړو کښې څه
کمی اولږ والی رانغی، بلکه په هر یو
فصل کښې به هم هغه رنگ - په زرگونو منه
دانی بوسونه - خشا کونه او نور بلا بتر
د خان کریم خان کره راچلیدل البته
که څه فرق خلکو محسوس کاوه نو هغه
د نیت - زړه حوصلې او طبیعت فرق وه

کریم خان دخپل پلار غوندې دلوی او
باچاهی زړه خاوند نه وه - دهغه دحوصلی
دائره ډیره تنګه او دنیت دفرا خوالی حد ونه
ئی ډیر لنډوه - دکریم خان دستر خوان
به اوس مم غوړیدلی و، خودعوامو دپاره نه
بلکه دخواصو دپاره - او دستر خوان به
هم ډیر مکلف - مثلاً درې څلور قسمه
مرغن پلاوونه سره کړی او وراته کړی
چرګان - تلیدلی مایان - پنځه شپږ قسمه
دبوری تیار شوی پخکړی مختلف قسم
سبزی - کوچ او پنیر قسما قسم چڼیانی
او مربا - کور - خټکی - مڼی - کیلی
سنګتری او مالتی - فرنی ګانی او رنګارنګ
میټائی پرتی وی، خان کریم خان چه
به ډوډۍ ته کښېناست - نو اول به ئی دری
څلور، سره کړی چرګان سره دتنورنی
ډوډۍ - بیا به ئې دوه درې تالی دپلاو ورپسی
به ئې په نورو پخکړو او سبزیو لاس راښکود
او میوی ته چه به کښېناست نو روغې روغې
تو کړی به ئې تشی کړی - د ډوډۍ نه به
چه وزګار شو لاس به ئی وو منځل او خوله
به ئې کنګاله کړه - او دچیلم یوه غټه توپۍ
تماکو به ئی په یو کش ایره کړل - نو په
بریتو به ئی لاس راښکود، او په ډیر فخر او
تکبر به ئی وویل - بنی آدم خو په خوراك
پائی - او چه خوراك ئی نه وی نو هغه به څه
بنده وی - په مړه ګیډه مرګ هم ښه دی سر
دګیډی زار چا دځان سره قبر ته څه وړی دی

که بنده څه وخوړل وڅکل نو هم دغه ئی ګټه
ده ګڼې نو پاته دنیاده - دا هر څه به ذلته
پاته شی، خان کریم خان به سحر وختی په
کټ کښی دخوبه ستر ګی وغړولی نو درې
چائنکه چای به ئې سر ته تیاری پرتی وی - ده
به په نیمو غړیدونکو، او نیمو پټو ستر ګو
دستونی تیری کړی، ساعت نیم پس چه به خان
دبستری نه پاڅید - مخ لاس به ئې و منځل
نو ناشته به ورته تیاره پرته وه - ناشته به څه وه
په درجنو نوهګۍ - پونډ نیم کچ، دوه پونډه
ډبلی ډوډۍ او دری څلور رکیبۍ
سره کړی غوښه وخوړه - دغه حال دمازیګر
دچائیو هم وه، خان کاکا چه به په بازار کښی
ورتیدونکی وږی ولیدل نو په ډك بازار کښی
به ئی ورته پلتۍ ووهلی او په درنګ ساعت
کښی به ئی او یا اتیا وږی وچیچل یو پلو
خان کریم خان ؤ چه په خپله ګیډه د خپله
ځانه هم ډیر مین وه، او بل پلو که
څوك خوار غریب او حاجتمن به دهغه دیری
ته ورغی او څه سوال به ئې ترنه وکړو نو
خان کاکا به ورته یو دم دبخت او اقتصادیاتو
کتاب پرانست او بعضی بعضی کسان به
ئی لکه، دکوڅه ډب سپو ورتل چه تاسو
تالان بازاری ځلك یی، زما پلار مو دیوانه
کړی و، تاسو په هغه بدبد عادت شوی وی
ولی زه دومره کم عقل او احمق نه یم چه په
ګدا ګرو او فقیرانو به ځان تباه کوم

پاته په ۱۰ مخ کښی

دښاغلی عزیز الرحمن سیفی ترجمه:

په ادب کښې د اجتماعی نظام اثر

په تیره مقاله کښې مو په ادب باندې د صحرا یانو د فکر د تاثیر په شا او خوا کښې خبرې وکړې. صحرا یان هغه خلك دي چه هغوی د منظم اجتماعی ژوند څخه کرکه کوي. د اخلك په شعور کښې نظر کائنات ته لګه شی کتلی چه د دوی خیال او فکر و نه په مادیاتو کښې داسې نښتی وی چه د مادیاتو له لومې څخه بیخی نشی خلاصیدلای. لیکن کوم قام چه له مدنیت سره اشنا او د اجتماع په خوند لږ و ډېر خبر او په دوی کښې فکری ثقافت پیدا شی نو اول اول له دوی سره د افکر پیدا شی چه دغه رغو څخه لحا نو نه را تول کړی او د خوشحاله او هوساژوند په تکل کښې شی او د نظام او اجتماع سره ئې مینه پیدا شی او د منظم اجتماعی ژوند سره د خلکو د اشنا کولو د پاره زیار باسی. د دې مفکورې په اثر د دوی په ادب کښې جدت پیدا او د اسې خبرو ته ئې فکر شی چه چانه وی او ریدلی او د ژوندانه اسرار او مظاهر په د اسې جملو او الفاظو تصویر وی چه نه ورسره د چا غوږ و نه اشنا وی او نه چا په ستر ګو لیدلی وی او بیا د اډول ادبی فن میدان ته را وباسی چه سارائی ادب ورڅخه خبر هم نه وی. او د اسې لوړ اغراض او فنون. اسلوب او عبارتونه او خوازه تشبیهات خلکو ته وړاندې کړی چه په لوستلو ئې نه مریږی او خپل مطالب د د اسې تشبیهاتو په هندار و کښې خلکو ته څرګند کړی چه هغه د هغو په زړونو کښې لحای ونیسی. د دوی د خپلو د زړونو کو چیغو او غلبلو او خوږ اسلوب او خوږو تشبیهاتو او خوږو مضامینو او ښکلو اشعارو په زور په خلکو کښې نوی روح پیدا او خپله تولنه د اجتماعی او منظم ژوند په نوي او سمه لار روان کړی. صحرائی ادب د د اسې خلکو د ژوند نمایندګی کوی چه هغوی د یو لحای او کرار ژوند څخه کرکه کوی. هغوی سهار په یو لحای او ماز دیګر په بل لحای کښې وی

د ۹ مخ پاته

لنډه د اچه خان کریم خن د خدای تعالی په دی د و مره لو په دنیا کښې فقط خپل لحان لیده نور څوك نه. او خلقو چه به خوله پور ته کړه نو ویل به ئې چه دیلار په ګور دی ئې خدای رحمت کړی. هغه د هرچا د رنځ دارو و. او د قیامت پوری به خلکو د زړ و نو نه و نه وځی ولی د اسې نا اهله ځوی ور له خدای ور کړ چه د ډیر و شتو باوجود د ډیر وزی او ناشکره دی چنا چه خان کریم خان و ر و په ورو په لحای د دی چه دیلار نوم مال او دولت ئې نور پسې زیات کړی وای. دیلار نیکه ځا بدادئې د خپل یکی یوی ګډی په بازار کښې لیلام کړو او اخر په د بر بد حال او بده ورځ د د هضمی دلا سه مړ شو او شاید چه د امتل هم به خان کریم خان پسې چاجوړ کړی وی چه سرد ګیدی زار.

دوی دلیږد اوبارونو د کښته کولو اوپورته کولو سره مینه لری، دوی په بارانی ځایواو ورشو گانو اودونو په سمسورو بڼونو پسی کډه په شا گرزی، اود طبیعب دعوارضو یخنۍ او گرمۍ څخه ډډه کوی، دوی قانون او نظام ته غاړه نه ږدی او نه دوی په خپل ژوندانه کښې کوم ثابت اجتماعی اوسیاسی نظام لری، دوی دطبیعت په لومه کښې گیروی او دخپل طبیعت حکومت منی او یا په بل عبارت بې دطبیعت دقانون څخه بل کوم قانون نه پیژنی.

ددې ادب په مقابل کښې یو بل ادب دی چه هغه ادب ته په اصطلاح کښی مدنی ادب وائی دا ادب دهغو کامونو دژوندانه نمونې خلکو ته وړاندی کوی چه ځای په ځای مېشت او کرار اوهوسا منظم ژوند کوی، ښارونه ودانوی، اود طبیعت له امانتونو څخه گټی اخلی اودخپل فن اوزحمت په مرسته دځان دهوسایۍ دپاره ښکلی ښکلی ماڼۍ اوقصرونه ودانوی دوی وریښمین کالی اغوندی اوپه پستو بستروخوبونه کوی، اوهغه شیان چه ددوی له پاره پاك خدای په ځمکه کښې دامانت په توگه خوندی کړی دی دعلم اوفن اوزیار په زورر اوباسی اوخوند اومزې ورڅخه اخلی، دوی داجتماعی نظام په ساړه سیوری کښی د خپل ژوندانه شپې ورځې تېروی اودخپل ژوندانه په لویوورو چارو کښی داجتماعی نظام دقانون احترام کوی اوداجتماعی نظام په ټینگ مزی یو په بل پوری ځان تړی اوهرشخص خپل ځان دخپلی جامعی غړی گڼی اوهریو دافکر کوی چه دهغه قوت زما قوت دی اودهغه سپکوالی زما سپکوالی اودهغه ورکاوی زماورکوالی دی، ددی راز خلکو سیاسی نظام هم په همدغه اساس ولاړوی، دوی دحکم جلال اود پاچا احترام اودقانون په ځای کول او د حکومت مظاهر اوبور منصبونه خپل ژوند اونیکمرغی گڼی اودهیوادودانی اوترقی اودهیواد فابریکی اوصنایع اودزراعت تنوع اودتجارت نظام اود صنائعو دتفنن وسایل خپل سعادت بولی. هر کله چه دانظام په یوه ټولنه کښې ځای ونیسی نو په دی نظام پسی په ټولنه کښی یو بل نظام راپیدا کیږی چه دغه نظام ته په اصطلاح کښی روحی نظام وائی دانظام دخلکو دزړونو نفسانی مفاسد باسی، خلکو ته دښو کارونو په کولو امر کوی اوله بدو څخه ئی منع کوی دشر اوفساد څخه ئی ژغوری اوخیر اواحسان ته ئی چمتو کوی، اودلوړ واخلاقو په سمه لارئی روانوی، اوددوی نفسونه پاکوی اواراوح ئی مهذب کوی اوپه دې وسیله ئی خدای ته رسوی

لیکن یو کام دې اجتماعی نظام اودې مقام ته په هغه وخت کښی رسیدلای شی چه په هغه ټولنه کښی علوم اومعارف په انتهائی ډول مخ په وړاندی تللی وی او په دغه ټولنه کښی فکری ثقافت خپل اصلی جگ مقام ته رسیدلی اود ډیرو پوهنتونو اودارالعلومو خاوندوی اوډیرقوی تربیوی اوتهذیبی مجلس اوداسی کتاب خانی اونشریات ولری چه یو دینی عالم

پیاوړی فیلسوف او پوه طبیب او پوه محاسب او مهندس دهغو مطالعې ته اړ کیږی او دغه ټول کسان دهغو څخه استفاده کوی ، او دطبیعیاتو عالم او مؤرخ هغه نشریات په مینه لولی ، او پاخه شاعران او کره لیکوالان یې ، او عالی فنون ، او خیالی شعرونه او ادبی نثرونه او ښکلی فنی رسمونه او تصویرونه دهغو دلړو خیالونو او ذوقونو نمایندگان او دغه کارونه ددوی عادی مشغله وی ، او دخپلو دغولړو خیالونو او قوی ذوق په اثر دطبیعت دجمال څخه گټی او استفادی کوی .

داډول اجتماعی نظام هغه نظام دی چه په ټولنه کښی رنگارنگ او ډول ډول ثقافتونه پیدا کوی ، داډول ثقافت دادب دپاره نوی ارت میدانونه پیدا کوی ، او انسان په دی پوهوی چه دا مدنی ادب ددوی دمدنی ژوند ښکلی تصویر او نمونه او دهغو دطبیعی عمیقو ارخونو تمثیل دی چه انسان دغه ارخونه دخپل علم او فن به صیقل ښایسته کړی او ښکلی کړی دی او د طبیعت دجمال له مخ څخه ئی پلوپورته کړی او دانسانی افکارو او عقولو او خیالونو دمسابقی دپاره ئی ښکلی او ارت میدان تیار کړی دی .

داډول ادب هغه سمسور کښت قوی محرك ، ښکلی چینه او ارت میدان او لوی ننداره تون دی چه په دی کښی دانسان دفکر محصولات قصرونه او ماڼی صنایع او اختراعات دنمایش په ډول ښودل کیږی ، داډول ادب دافکارو او هغو خیالو دپهلوانی میدان دی چه دملك رونق ورباندی زیا تیږی او دحضارت دین او فلسفی اساس ورباندی قوت مومی ، په دی راز ټولنه کښی دعقل او ثقافت میدانونه ډېرارت او پراخ وی .

په دی لړ کښی بوبل نظام دی چه دغه نظام ته په اصطلاح کښی حکومتی نظام وائی او دا نظام مختلف انواع او قسمونه لری که څه هم ځینی غیر قانونی نظامونه فردی حریت محدودوی او دادب دخیال وزرونه ماتوی لیکن قانونی حکومتونه ددین او قانون تابع وی او دجامعی دعاداتو او دودونو احترام او دهغو دادب روزنه کوی .

دا هغه موضاعات دی چه په دې ټولو موضوعاتو کښی مدنی ادب پوره تاثیرلری او دغه ټول موضوعات دادب دلوی سیند او صافې چینی څخه او به کیږی .

دیر پوهان دا نظریه لری چه مدنیت دادب دترقی او پرمخ تګ او دی مهم عامل او مؤثر سبب دی ، که مونږ دادب انواعو او دادب دموضوعاتو تعددته ځیر شو نو مونږ به دغه نظریه ومنو لیکن که مونږ دهغو کامونو او ټولنو په نسبت چه هغوی ختمی او یا دین ، او ادب او ژبی په خپلو کښی سره یو او متحد کړی دی دادب « کمیت » ته ځیر شو نو په دی صورت کښی دپوهانو دغه پورته نظریه نشی صحیح کیدلای او دا لحکه چه اجتماعی بی نظمی او هغه ژوند*

مرور اشناته

ښاغلی دوست شنواری

ومه مرور خو اوس پخلا در ته راغلی یم
او ښکی می کړی وچی په خندا در ته راغلی یم

ښه دی کړی ښه که په څو ځلی دی رتلی یم — نه یم پښیمانه چه لا بیا در ته راغلی یم
خلك آشنائی د زور و رو په نحو پالی — زه دډ کو ستر گو په ژړا در ته راغلی یم
ستر گو پښتنو ته می قبولی ننوا تی کړه — او ښکو دجر گو سره آشنا در ته راغلی یم
ښخ می په خاطر کړه د ښو غشی خو گوره سم — ستر گو نه دی جا رشم بی پروا در ته راغلی یم
گورم دې تصویر دمخ دزړه په آئینه کښی تل — ځای نه دی دمخ په تما شا در ته راغلی یم
ښکاری دنیمگړو جوابونه گیلمن غوندی — وا یه که څه وائی چه په غلا در ته راغلی یم
هیره کړه ماضی راځه چه یاد داستقبال کوو — ډیر په امید و په تمنا در ته راغلی یم

نور که می شړی که می پریږدی خو ښه دی خپله ده
دوست چه ننواتی بی گنا در ته راغلی یم

---

*چه دمدنی قوانینو او نظام څخه آزاد وی په کامونو کښی ادبی روح ته وده ور کوی لیکن ادب ته ترقی نه ور کوی او اجتماعی نظام او مدنی قیود او قوانین په ټولنو کښی ادبی روح ته ترقی ور کړی مگر ادب ته وده نه ور کوی، او په دی دواړو خبرو کښی ډیر او ښکاره فرق موجود دی.

دی پورته مفکوری ځینی څیړونکی په فکر کښی اچولی اوله دی مشکل سره ئی مخامخ کړی دی چه کوم سبب ؤ، چه دجاهلیت په دوره کښی ئی په عربو کښی شاعران دومره ډیر کړی ؤ په دی خصوص کښی دفرانسی پیاوړی نقاد ادیب (لاهارب) دا نظریه لری چه په هغه وخت کښی چه داجتماعی نظام او حکومت اداره سسته او کمزوری شی نو په دغه وخت کښی شعر او خطابی قوت پیدا کوی او دغه شیان قوی کیږی، او دا قول دبداوة او مدنیت په منځ کښی یو ښکاره او څرگند فرق دی، او دا ځکه چه هر کله حکومت ضعیف شی نو بی سری ډیر ېږی او چه بی نظمی ډیره شی او هر څوك په خپل سر شی نو اجتماعی نظام منحل کیږی او په دی صورت کښی دخلکو دخولو څخه دقانون او نظام اخلاقی او اجتماعی برغولی پورته کیږی او پخپل سر هر څه چه ئی په خوله راځی هغه وائی.

که څه هم مدنیت او اجتماعی نظام په ادب کښی داسی شیان راپیدا کوی چه بدوی ادب هغه شیان نه لیدلی او نه ئی اوریدلی وی، لیکن سره ددی هم ډیر داراز حقائق پټوی چه هغه دبدوی ادب دخیال دمانۍ قوی اساسونه او ارکان وی.

ښاغلی زین الله

دبیوزلوژوند

حبیب ته به دی چه کتل نوهروخت به ئی څڅندی لپی لپی اوښکی د «امین» له غمه تو بولی که دډیر سخت زړه خاوند به دده دې څڅندو اوښکو ته کتل نوسم دواره به ئی زړه نرم او دستر گو ناوونه به ئې وبهیدل دده گرمو اوښکو او تو دو او سیلیو کلك زړونه د او بو په شان نر مول .

حبیب څو کاله دفراق او بیلتون به دې دوزخ کښی کړاوونه اوربړونه وزغمل اولا زغمل ئې ، یوه ورځ له بده مرغه زه ورسره ملگری شوم ، ما دا خیال و کړچه البته ځلمی امین به ئې له یاده وتلی وی ، اوس به ئی څه دومره پروا وریسی نه وی ، نوومی غوښتل چه دامین دبې پتی ور کیدو پوښتنه تری و کړم ، که زه خبروای چه په ده دومره سخته او دردمنده اغیزه کوی نوهیڅکله به می دې پوښتنی ته خوله قدر هم نه وای جوړه کړی . ما چه ورته دامین نوم یاد کړ نو لکه چه په وچه میره دپسرلی تنارا سمه شی او یو گړی کښی تر ینه سیلاوونه روان کړی داسی زما پوښتنی هم دده دغم ځپلو ستر گو ناوونه کړ زنده وبهول اوڅه ساعت وروسته چه دا دغم تنا تیره شوه او ستر گې ئې څه قدر وچی غوندی شوی نوزما د پوښتنی ځواب ته ئی خوله جوړه کړه وئې ویل چه : انسان دزمانی دلاس بازیچه او نانځکه ده چه په هر ډول ئی خوښه وی په هغه رنگ ئی لوبوی ، کله ئی پر تخت کښینوی او کله ئی دخاورو ایرو پر سپیره ډیری . دا دې اعتبارات دی چه یو ته پاچاوائی او بل ته گدا . که وغواړی چه پاچا گدا کړی او گدا پاچا نو له لاسه ئی پوره ده . څرك ئی دمخ نیوی نه دی ، خوخدای دی ئی په بده چا ته پام کوی نه .

له بده مرغه دزمانی ما ته هم پام شو اوزما کړاو اوترتلو ته ئې ملاوتړله ، که څه هم ما په خپل ژوند کښی کوم کیف اوخوندله خپله ژونده نه دی اخیستی تش دومره ؤ چه دیو عادی ژوند خاوندوم . زمانې زما داژوند ددې پرځای چه دخوند او کیف په ژوندئې بدل کړی پداسی دبدخوندی په ژوندئی بدل کړچه اوس ئی ته په خپله وینی . اوزما بیان ته کوم ضرورت نشته ، گرانه ! یوه ورځ په کور کښی زه او دی سره ناست وو اودا خپله غریبی او بی وزلی موژړله ، چه زمونږ ژوند خوډیر تنگ دی زمونږ له دی ژونده خومرگ ښه دی ، نور را باندی دپور ، وور اعتبار هم څوك نه کوی ، که چا نه څه پور وغواړو نو اول مو په هغه اودغه عولوی خرچه ونشي نو بالاخره راته ووائی چه :(بیا به نو څه را کړیء ؟)

آمین راته وویل چه راشه پلاره کنه! که دی خوښه وی زه به سر کاری ملازم شم دومره

څه خو به را کړی چه پور هم پری خلاص شی او پلانی پټی به هم له ګانی نه راووځی او ما به بیرته خدای را خلاص کړی او که نه نو نرپسه خدای پیدا کړی حلالولو ته دی ، تاسو دی آسوده او آرام اوسیء که زه نه وم هم خیر دی .

ماچه د امین دا خبری واوریدی نو زړه می را وپرسیده نژدې وه چه کو که مې کړی وای خو بیا مې (لاحوله) کړل او خپل ښا او صورت می سره را ټول کړل ، او ورته مې وویل چه ښه ده کنه زویه ! داوه زما او دامین موافقه امین لاړ سر کاری ملازم شو او ما ته ئی څه خاوری ایری په لاس کښی را واچولې او سمدلاسه خوئی پری زه خوشاله کړم . امین نه پوهیږم چه خدای زده په تقسیماتو کښی کوم ځای ته واستول شو ، دده د ملازمت د ځای هیڅ پته ما ته معلومه نه شوه . دی خبری څه قدر زما فکر کډوډ غوندی کړ . خو بیا می زړه ته تسل ور کاوه چه زه خو چه د ملازمت دوره ئې تیره شوه خدای به ئې بیرته راولی ، زه لا په دی انتظار کښی وم چه دا دوره هم پوره او تیره شوه . دامین ملګری ټول را غلل خو زما له بده مرغه امین خو لاڅه چه تش د مرګ او ژوند خبر ئی هم را نغی ، دادی د ملازمت له دوري نه ئې را په دی خوا درې کاله نور هم ووتل خو زه ئې د مړی ، ژوندی نه خبر نه شوم او نه له دینه خبر شوم چه په کوم ځای کښی ؤ .

که دامین ور که لټوم نو تا ته خو معلومه ده چه په کور کښی دومره څه نشته چه خولې ته ئی وا چوو ، واړه ، واړه پنډه چرګی ایل (عیال) را په غاړه دی ، خدای ئې الا وان (پالونکی) دی او زه ئې ورته واسطه کړی یم ، که زه دامین ور که لټوم دلته دوی له لوږی مری او که نه نو دامین د بیلتون او فراق سره سکروټه مې پر زړه پرته ده سوی ئی را باندی سپینه ورځ توره شپه کړی ، لار را څخه ور که ده په خپله ښه او بده نه پوهیږم ، خو غالب ګمان می دادی چه نه به زه بیا دامین غټی ، ښکلی او خوږی ستر ګې په ستر ګو وو ینم او نه به امین بیا ما ته (پلاره!) ووایی ، د ژوند ګړی به پر ما او امین یو دبل دلیدو په ارمان کښی تیری شی او د هیلو ډک زړونه به قبر ته یوسو .

داوه د امین بې وزلی دور کیدو کیسه چه حبیب را ته به مات زړه او محزونه لهجه تر سره کړه او زما د زړه په ماڼۍ ئې هم زلزله راوستله .

د حبیب خبره رښتیا شوه چه دی بې وزلو سره یو تر بله و نه لیدل حبیب دامین له غمه غلبیل زړه قبر ته یووړ ، او امین لا چه څرنګه بې پتی ورک ؤ هم هغسی ورک دی ، د دوی د هیلو ډک زړونه لکه چه څرنګه ډک ؤ هم هغسی ډک پاته شول .

داؤ د حبیب او امین بې وزلو ژوند چه په ناکامۍ او ارمان پای ته ورسید .

پاته په ۱۶ مخ کښی

راغلی لیك

له «هامبورگ» ته

دپښتو اکاډمۍ محترم ریاست !

هغه ډېر کتابونه چه تاسو زمونږ دپوهنتون دشرق پېژندلو څانګی ته اهداء کړیدی رارسېدلی دی او زمونږ داستاذانو او پوه غوښتونکو دډېری خوښۍ باعث وګرزېده داښکلی کتابونه د تاریخ او ژبې پېژندلو محققینو سره ډېره ښه مرسته کوای او تل به ترېنه استفاده کیږی .

هیله لرم چه ددی موسسی صمیمانه تشکرات و منیء دښو احترامات وړاندی کونکی

(پوتولو شپولی)

د ۱۵ مخ پاته

تول بې وزلې خلك په همدی ډول دناقابل برداشت او نه زغملو حوادثو او پیښو سره مخامخ کیږی ، دادردونه اوغمونه ئې یوازی په خپل زړه تیریږی ، نه ئی څوك له حاله خبریږی او نه څوك ترېنه ځان خبروی که له چانه څه پور وغواړی هغه هم ورته (دبیا به څه را کړی) په ځواب خوله ور بنده کړی ، او که ورته ووایی چه خدای خو شته ، نو دا ورته وائی چه خدای خودې اوس هم ؤ در کړی به ئې وای ، په مات زړه ئې بیرته وشړی .

ای زمونږ دبې وزلو او پکیرانو ژونده ژر پوره شه ! ځکه چه زمونږ امیدونه او هیلی خو په تا نیمګړی او غم لړلی ژوند کښی نه پوره کیږی ، له بې هیلې او بی خونده ژوند نه مرګ ښه دی پوره شه او ژر ژر مودا دحوادثو ترخه پرده له سترګونه تیره کړه ستا په سینما کښی خو مودا راز ناز او خوندو کیف پرده چیری هم په سترګو ونه لیدله تیریږه او ژر ژر چه لږ مودا غم ځپلی زړونه په کرار شی .

ليکونکی: لطفی المنفلوطی — مترجم ښاغلی تهذیب

مقدمه

ناکامه او بدبخته وګړی په نړۍ کښې زښت ډېر دی، او زمایشان ناتوانه ملګری نشی کولی چه ددوی له کړاونو او سختیو څخه څه شی کم کړی نو لږ تر لږه داڅو اوښکی ددوی مخی ته تویوم ودی شی چه ددوی مانېجن زړونه زمونږ په ژړا څه تسل ومومی.

(لطفی المنفلوطی)

اوښکی

شهیدان

دی ته دمهربان مېړه او خواخوږی پلار له مرګه پس بیله یوه کوچنو تی زوی او یو خوږ من ورور چه یوئې دمات زړه تسل او بل ئې دژوندانه په تورو ورځو کښې ملو، او هومره مال چه په صرفولو ئی لکه ماشوم چه خپلې ګوتې روی دنړۍ شپی ورځی خطا ایستلی، نور څه نشوه ورپاته!!.

داوچی ګوتی ئې څووخته وزبیښلی خوداچینه هم وچه شوه، او دائې دې ته مجبوره کړه چه دورور په شومه ورګډه شی، او دده خواری ورسره نیمائی کړی.

ورور داو منله، خونړۍ دمصائبو یوه بله پاڼه هم وګرزوله، هغه داچه دورور تول هستی بی موجبه محوه شوه، او ده هم دفقر له ننګه خپله ورکه ښه وبیلله هغه ؤ چه نامعلومه خوادډېر اوږده سفر په قصد له دوو ویر جنو او دوو، معصومو ستر ګو څخه الونیا شو.

دې اوس نه مال درلود او نه دکار ملګری.

نړۍ دکړاو او بدمرغۍ هومره دروند پیټی ددې پر اوږو کیښود چه بل شرئی داخستلو توان نه درلود، ناکامه مور، دمزدورۍ په جامه کښې دهستمنو دروازو ته ودریده، دومره ئې وګنډل چه لیمه ئې کمزوری شول او دومره ئې ومینځل چه دلاسو سیک ئې وخوت.

ترهغه ئې دکارخانو لارو وهله څو په تول ځان ستومانه شوه، او ترهغه وخته ئی دکورونو او منازلو غولی جارو کړل څو ئې شان او حیثیت دخلکو په نظر کښې کم شو، مګر له دې تولو کړاوونو سره ئې وکولای شول چه هم ژوندو کړی، او هم خپل وړو کی زوی بخپله خوا پورې ژوندی وساتی.

دبې لاس اوپښو ماشوم ژوند، ددې دډېر زیار اولږي مزدورۍ محصول هم نه و، بلکه

لوی خدای نه ئې هم نه غوښتل چه دژوندانه په توره تیاره کښې ئې هغه دخوږمن زړه دتسل نری وړانګه خپه کړی

په همدې شان ئې شپې ورځې شمېرلې، داچه هرې اوږدې شپې او هرې ترخې ورځې لږ څه ددې دمټ زور کماوه نود کوم راتلونکی سعادت فکر ئې هم نشو کولای - خو کله چه به دحوادثو شپه لاهم پسې توره واوښته، او دژوندانه سیمه به لا هم پسې و همجنه او ډاروونکی ښکاره شوه، نو هلته به بیا په بوه لیرې افق کښې - دلوی خدای د رحمت له آسمانه درې رڼې وړانګې وځلېدی چه ددی دفکر تیاره به ئې ماته کړه، او ددی ځپل شوی زړه ته به ئې لږ څه تسل او صبر باښه، هغه دری وړانګې: بو دوړو کی زوی عشق، بله دورور دبیا راتګ امید، دریمه دپت او شرف دپځای والی او سلامتوب وړانګه وه !!

دشپو ورځو ډېرې اوږدې قافلې لاړې او راغلې، زمانه زړه شوه، او یتیم ماشوم پځوانی راغی، دغم او دوک لوخره دمور له سینې راوالوته او دځلمی په ساده کوګل کښې خپره شوه..

او س نو ځلمی ځوی مجبور شو چه هم دځان او هم دهغې مور چه ډېر کلونه ئې دی ترځان ډومبی ساته، شومه برابره کړی.

درزق او شومې ډېرې دروازې ئې وټکولې، او په راز، راز، مسلکونو کښې ئې پلټنه وکړه، ترڅو چه ئې خپله برخه د(رسامۍ) دفن له لارې ستر ګوته وبرېښیده او په دی لار کښې ئې پوره زیار ته ملاوتړله، لږ مودې لا وتلې نه وه چه درسم په فن کښې دبشپړ مهارت څښتن شو، او دخپل رزق لاره ئې معینه کړه.

ځلمی خپل مسلك کمال ته ورساوه، خو دشومې پیدا کولو چمونه لانه ورتله، نو له دې وجه نه دژوندانه په اړو دوړ کښې په خوراز حمت سوکه. سوکه مخ په وړاندې روان و، او دوه وچ ستونی به ئې دمقدر قسمت له چینې په شمېر لوڅاڅکو لمدول.

ستومانه مور که څه هم دزوی له عایدانو کوم سعادت ته نه وه رسیدلې او په مړه ګېډه نه وه بیده شوی، خو یوازی په دی وجه چه ورځ به ئې دځلمی زوی درانګ په انتظار شپه کوله او شپه به ئې هم دستومانه زوی سرته رڼه کړه خوشحاله وه او دائې دژوندانه خوږې ورځې ګڼلې.

یوازنی شی چه دائې لا اوس هم کړوله او دزوی دغیاب په وخت کښې به ئې ژړو له، هغه دورك شوی او په نامعلوم اوږده سفر تللی ورور یادونه وه، ځکه پنځلس کاله کیده چه دمهربانې خورله ستر ګو غائب او پوره لس کاله کېدل چه کومه پاڼه هم دده له لوری نه وه رارسیدلې - همدا وجه وه چه کله به ئې دفراق او ربیا وښوربد او سرې لمی به ئې ددی

په ګوګل کښې جګړې شوې نو بهائې له وچې مجبورې هغه معلوم ځای ته، کوم چه دتولو ویرځیلو اوغم تنلو مرجع او دزړه سړو لو مکان دی، او داوښکو په سرو څاڅکو پلنې ګرېوانونه لړې، داهم ورتله او دومره اوښکې ئې تو بولې چه دستر کو تو ربه ئې سپین شول خو کله چه بهائې دځوی دراتګ وخت نژدې شو، ژر به رایاخېدله او خپله و برجنه ځیره به ئې وګرځوله تندی به ئې وربن کړ او له غمه د کډخرله به ئې خندانه و نیوله بیا سې دول به ئې دستومانه زوی هر کلی وکړ چه تابه ویل:

یو شپېه له مخه ئې په کوکړ او تاوونه دې ژړلې.

دې به هره ورځ دا کارؤ، څو یوه ورځ ئې زوی دهری ورځې برخلاف لږ څه د مخه کورته راغی، ګوری ع جزه مور دخپلې مخصوصې کوټې په کونج کښې سلګۍ روهی او هغه دعکس فطری ته چه ځانته ئې مخامخ نیولی ده ځیر ځیر ګوری!!

زوی ئې څیری نه په ځیر و کتل او دورک شوی ماما عکس ئې وپیژاند.

دخپلې مورله دې بڼه ګرومه سخت غمجن شو. او دتودو اوښکو بودروند څاڅکی ئې برېتو را وځړېد، ستر ګې ئې په قراره دمور خوانه واړولې سوکه ئې خپل لاس دې براو زه کېښود او په خوږه ژبه ئې ورته وویل:

موري! مه ژاړه، ډېره آرامه او حوصله اوسه، ځکه امید دی چه زمونږ ورک شوی به خدای زر پیدا کړی!!!

دمور تندی وغوړېد، مخ ئې مخصوصه رنګا و کړه. او وئې ویل: څرنګه زویه! کوم شی ستا دامید سبب وګرزېد؟ ده وویل: موری! خبر شوی یم چه څرمیاشتې وروسته به (واشنګټن) دامریکا په مرکز کښې درسامې بولوی تندارتون جوړ یږی. په دې تندارتون کښې درسمونو لپاره غټې اووړې جایزې هم تاکلې شوې دی. زما ملګرو ماته پاد را کړچه ددوی په مرسته زه هم ګډون پکښې کوم ګوره که موخدای مل شي او دهمځولو په ډله کښې دجائزې په اخستلو بریالی شم، نو به په یوه وار ځان او تادواړه ددې بدبختۍ له ژوری وباسم، او بیابه ستا دورک و رور دومره پلټنه وکړم چه بابخپله ورک شم او یائې پوره پته پیدا کړم، دمور ستر ګې بیالمدې شوې او دتندی ګرځې ئې وربښندې او وئې ویل:

په، په، زویکه زه ستا څخه جلاوالی نشم منلی نرهغه وخته چه زما په خوا کښې ئې میخ دول بدبختی ماته نشی را تلای، اوته هم نرهغه وخته چه دخدای په مقدر قسمت قانع اوسی نیک بخته به ئې!

ژویه که نه هم زما له خوالیری شی، نوهله به نوله نری کښی مغوندی بد ختمه اوشقی شخه موندنه نشی، خوزه زویه! که می دوروریه ورکه یووار ژرلی وی، نو ستا یه لیری والی به زر واره کوکی ورهم، زویه هر کله چه ورک ورور، را یاد کړم، اوغواړم چه له کورمه لوخړه شم، نوهلته می ستا په یوه دیدار زړه تسل شی اوبو وا ردغم له خیبز و منګولو خپل ګریوان خلاص کړم.

نوته انصاف وکړه، کله چه می ستا دفراق اور به زړه بل شی نو څه شی به ئی دتسل موجب کیدای شی زوی یوه ګړی خاموش ؤ، اوبیائی دیته دتسلیت خبری شروع کړی بدوا ورو لاسوئی د مور او زی چیکښلی، او سو که سو که ئی د خپل تګ په خوزو آرزو ګانو کښی ورګډه کړه، خرآرامه اوراضی شوه، اوخپل ځان اوځان اینده ئی لوی خدای نه وسپارل.

دبری شپی لانه وی وتلی چه دزمانی جام وچرپید، اوخووژونکی، سوزوونکی اوژړونکی حادثی دخاخکو یشن شاوخوا تری والوتی، چه یوه له هغو څخه داوه: څه موده بعد خواری خوړلی پریشانه مور، یوازی په فراسه کښی دزوی له غمه کریده اومتاثر ځلمی دمورله څنګه لری له دیرو امیدونو شره بیله کوم آشنا اوملګری په امریکا کښی پردیس ؤ.

ځلمی درسمونو ننداره تون ته ورسید اوهلته ئی خپل رسم چه په هغه کښی ئی دبحر دنورو اوبو برشنه ساحل دخپلی مهربانی مورسره دخدای یاماری حالت - یخورا مهارت تمثیل کړی ؤ ښکاره کړ، دی رسم یوه بیشانه غمجنه منظره ښکارو له، دغم اودرد عظمت ئی برابرونکو اثر کړه، او درسام له مهارته به حیرت کښی نالل، خوهغه جائزه چه دده به تصور کښی وه ورته ومنله شوه اوور کړه شوه.

ځلمی نه ځان دزړی له لوړو سعادتمندانو څخه ښکار یده، دده به خیال دا او له ورځ وه چه ذی یکښی دنیانه راغلی اوبوه کړی دمخه ئی دژوندانه زهرندی څښلی!! اودا ښکاره اوشقاوت څیره ئی نده لیدلی!!

هو! همدا رنګه زمانه ګل دانسانانو به ژوندانه ملنډی وهی، اوپر مقدراتوئی مسخری کوی.

هردول زهر چه وغواړی دمحکوم بشریه بیباله کښی ئی اچوی اوبه څښلوئی مجبوروی دهغه وختهئی ددردونو او کړاوونو تر یخوا لی به ستونو کښی ورځخوی خوبوه شی چه اوس نووحشت کوی اوغاړه باسی - یا لیونی کیږی اوانتقام اخلی، هلته بیادامیدونو او آرزو ګانو په تور آسمان کښی یوه ترکی ګاذبه ورانګه ورته بریښوی اودهغی

په واسطه‌ئې الکه هغه حیوان چه دشنې مرغی په منځ کښې ئې دحلال‌ولود گر نه وګډوی
بوه کړی غلط اوخوشحاله کړی !!!

رښتیا ، څومره زمانه پرانسانانو مسعوده اوڅومره غریب انسان دزمانې په مخکښې
زبون اوبدبخته دی .

ځلمی یوڅه پیسی اوبعضی ضروری شیان منتظری مورته واستول اوبولیك ئې ور سره
ضمیمه کړچه په هغه کښې ئی لیکلی ؤ : موری زه اوس بوه کړی هم آرام نه کښینم
اودادی سرله اوسه ستادورك وروریه پلټنه پسې وځم او ترهغه نه راگرځم څوئې پور ه
پته معلومه نکړم .

ځلمی رسام په کلیواوښهرونو سرشو اوله هرپلی اوسپاره ناست اوولاړ څخه‌ئې دخپل
ورك شوی یو ښتنه کوله ، څو ئې دځینو کسانو له خولې فقط دومره پته
وموندله چه (پلانی) څو کاله دمخه زمونږ له دلی جلا
اودمو ، دکانو نو په پلټنه پسې دجنوبی برخودبعضی ټاپو گانو په لورو لاړ او بیا
رانغی !

ځملی دجنوبی جزائر وپه اوروخوځید اوپه هغه لارچه دده په گمان دمامادور کی لاره ښکاریده روان شو ، له ډیرو مزلو وهلواودیرو سختیو تیرولو ورو سته بوی وچی دارو ونکی جزیری ته ورسید ، ددی جزیری به آسمان کښی لادبر بریت دوختو توری وریځی خپری وی ، دوحشت په تپه تیاره کښی ئې دپوهې اوتمدن کومه نری ورانگه هم نوه تیره شوی ، ځلمی ددی محیط دزنگیانو په بوه قبیله رابرابر شوچه دخوجگو اوښوبوغرونو په منځ کښی ئې دخومدې لپاره اروای وو .

سوکه ، سرکه ، دقبیلی پلور ورغی دده په زړه کښی دارا وامید دواره په یو ماندازه و ، خوچه کله دقبیلی دخلکو پری نظر شوله واره راوپاریدل او غه دانتقام اودښمنی اورچه درنگ دبدلون په نامه ددوی په تورو تترونو کښې نری نری ، بلیده ، او دوی ئې دهر سپین شی حتی لمراوستوروپه نسبت بدبینه کړی وو ، په بوه وارغورنجه وکړه .

په کوکو اوچیغو ددهپلور راغلل اوپه بوه گړی ئې ددهترلی وجود دقبیلی پلورواخیست هغه دمنتظری اوژړاندی مورد ستر گوتورئې په بوه هولناك تورغار کښی چه دوی به دانتقام بندی خانه بلله ، عمری بندی کړ .

دی اوس بوه شوهغه دآمالو بریښنا چه دننداری په ورځ دده ستر گوته و بریښیده رښتیا نی بریښنانه بلکه دزمانی له دروهنوڅخه بوه دروهنه او له هغو ډیرو مسخرو څخه

چه تل ئې د بشر پر سرنوشت کوی یوه مسخرگۍ وه،

او هغه فکر چه ده دراتلونکی یوه مختصر سعادت او لږ شانتی آرامۍ لپاره کړی و، د پرونونو په لړ کښې یو پرون شو، او د تېری زمانې د زاړه کتاب یو شلېدلې پاڼه وگرځیده، ځلمی به دی ناورین ته غاړه ایښی وه او گللی به ئې و، خوافسوس چه دی ورته یوازی وای!! څه شی چه دی دم پدم واژه هغه د یوه بل ډیر کریم او مهربانه انسان هستی وه چه دده ټول درانه گورمونه او زحمتونه ئې په ضعیف تن ور سره وړل، د ځلمی پر ور میږه هم د خواخوږی مور د زړه غمونه واو ښتل، ....

شپه شوه او ځلمی ئې د بندی خانی یوی بلی طبقی ته ور ټیټ کړ، هلته ئې د یوه درانه او زیږه ځنځیر غټه کړی ور پغاړه کړه، په توره تیار کښې ئې یوازی پر ښو داوور ئی پسی وتاړه سترگی ئې پرانستلی مگر هیڅ ئې ونه لیدل، دی نه پوهید چه سترگی ئی پټی دی او که رڼی ځکه تیاره هومره حاکمه وه چه ده حتی خپل ځان هم نه لید دی لا پدی حیرت او وحشت کښې ډوب ؤ چه شپه تیره شوه او د زندان پر دیوا له سوکه، سوکه د لمر دوړانگې یو نری سپین تار راو بهید، څو ده ته مخامخ شو. د ځلمی زړه د نرۍ وړانگې له رالو ېدلو هومره تسل شو لکه یو پر دیس چه د غربت په دنیا کښې د بل پر دیس په لید لو خوشحا لیږی، او له لمره ئې د دې استازی په لیږلو چه دده د وحشت د کمیدلو او انس پیدا کیدلو سبب وگرځید تشکر وکړ، دده په ماحول کښې بل کوم د پیژندنې شی نه ؤ، نو ئې دوه سترگی دوړانگی د بطی حرکت سره کوز او پاس، شاؤخوا گرزولې، څو وړانگه سوکه، سوکه، لنډه او کوچنۍ شوه او د هغه سوری خولې ته چه ور څخه رالویدلی وه وختله او بیا په قراره د آسمان په لور والوتله، بندی ځلمی دوړانگی له تللو څخه چه د ده د تورې کوټې ملگرې وه، ډیر غمجن شو، شاؤخوائې سترگې وغړولې، د ځان په اطرافو کښې ئې غټې او تکې تورې اشیاوې چه دواهمو پڅیر ئې د یوې بلې تر څنگه نرۍ نرۍ، برښنا کوله او شاؤخوائې تور، تور، او ژور غارونه لوښکاریدل. ولیدلې د محبوس نظر د ځان په لو د رشو گوری چه دی هم د هغو تورو شبحو څخه یوه حیرانه شبحه ده چه یو مبهوت او حیرت وهلی روح هم پکښې دو تلو په فکر سپک ولاړ دی!!

په دی ژور او پراخ قبر کښې چه د تیارې له زوره ئې تو له فضا متحرکه او په څپو ښکاریده

محبوس دځان دپیژندنې لپاره پرځان لاس راکیښ اولدې چه خپل وحشت لږ څه کم کړی نوئې وغوښتل چه یو گام له خپله ځایه پرمخ ولاړشی،

دده له ارادې سره سم دځنځیر ونو ترنگها ر شو او ځلمی په توره تیاره کښې په خوله رلگید!! له وهمه ژر کښیناست او پرهغه ځنځیر چه دده دواړه پښی ئې په در نو او زړو کړیو کښې بندی وی لاس وواهه، دبی اسری بندی په زړه کښې دامید لاره بنده شوه ځان ورته مظلوم ښکاره شو نوئې سر پر ځمکه ولگاوه او په سلگو. سلگوئې وژړل.

پردیس او ناامیده ځلمی دعالم له ټولو فکرونو، ښېگڼو او بدیو سره رابطه وشلو له دده اوژوندانه په منځ کښې فقط دوه رابطی پاته وی: یوه هغه دلمر نرکی وړانگه چه هر سبابه دڅوگړیو لپاره دده هم صحبته وه، او بل هم هغه تورزنگی بندیوان چه هرما ښام به ئې په پټه خوله یووار دده حال اخیست یو کال لا پوره نه ؤ تیر شوی ځلمی ټول شیان حتی خپل ځان او خپله مور هیر کړل.

هغه پخوانی ژوندون او او سنی عالم ته رانگ ئې له یاده وایستل، شپه او ورځ نور او ظلمت سعادت او بدبختی دا ټول ئې فراموشی ته وسپارل، نه مړوو، او نه په ژوندا نه پوهیده، نه خوشحالیده او نه ئې ددرد احساس کاوه نه ئې تیروخت یاداو، او نه ئې درا تلونکی وخت کومه ارزو در اوده، نه پوهیده چه دی هم دماحول له تیږو څخه یوه تیږه او که دبی پایه ظلمت له تورو بڅریو څخه یو بڅری دی، نه پوهیده چه آیا کوم متحرك وجود دی او که کوم گرزیدونکی خیال، دوهمونو څخه کوم بی سرانجامه وهم دی او که د نیستیو څخه کومه ابدی نیستی؟

ښاغلی محمد حسن (سایی)

دتاریخ اوجغرافي لسانسه

تاریخ کله او څنګه منځ ته راغی؟
او په څو دورو ویشل شوی دی؟

الف : تاریخ کله او څنګه منځ ته راغی؟!

کارل مارکس دآلمان دایدئولوجی په کتاب کښی لیکی : (۱) ممکن دی چه انسان دشعور یا مذهب او یا هرهغه نورڅه چه دخلکو خوښه وی دهغو په واسطه له نورو حیوانانو نه ځان بیل کړی ، خوانسان له هغې ګړی نه چه دخپل ژوندانه د وسائلو په تولید لاس پورې کړی دی ، له هماغې ګړی نه ئې بیل کړی چه ځان له نورو حیوانانو نه جلا کړی ،

دمارکس دغه پورتنۍ خبره برسیره پرها خپل خصوصی معنی او کیفیت ددغه سوال چه (تاریخ کله او څنګه منځ ته راغی ؟) هم یو معقول او بلیغ ځواب کیدای شی . ځکه آلات اوافزار (چه تولیدی وسائل هم ورته ویل کیږی) .

دتاریخ مادی آسناد ګڼل شویدی .

مؤرخین او آرکیالوجستان (لرغون پوهان) او آنتروپولوجستان (انسان پېژندپوهان) کله چه وغواړی دیوې مجهولې او نوم ورکې بشرې ټولنې دژوندانه له حالاتو او کیفیاتو نه ځان آګاه کړی نو تر هرڅه دمخه دهغې ټولنې دژوندانه آلات اوافزار چه ترکومه ئی په لاس ورغلی دی ، ترعلمی څېړنې اومطالعې لاندې نیسی .

نو هغه لومړنی انسان چه دلومړی ځل دپاره ئې طبعاً اوجبراً دخپل ژوندانه تدافعی اویا معیشتی وسائل جوړ اوبرابر کړیدی دهغو وسائلو او تولیداتو په وجه له یوځوائې ځان له نورو حیواناتو څخه جلا کړی او د(انسان) نوم ئې غوره کړی دی (چه پدغه مناسبت فرانکلن هم انسان یوافزار جوړونکی حیوان ګڼی) اوله بلې خوائی راتلونکی زمانې ته تاریخی اسناد جوړ کړی اوپرې ایښی دی .

هو! دمځکې پرمخ هغه انسان چه دلومړی ځل دپاره دڅیروونکو اوداړونکو ژو یو او نورو آفاتونه دځان دساتنې اومدافعی اویاد خپل معیشت دتأمینولو په منظور دچقماق ناتراشلې ډبره ، ګرز اوډبرین تبر جوړ کړ په حقیقت کښې هغه تاریخی مادی وثائق او اسناد منځ ته راوړل او دلومړی ځل دپاره ئی تاریخ او انسانیت دواړه سره یوځای افتتاح کړل

---

(۱) «پیدایش انسان» دپروفیسر آ- ای فارایئون ترنظر لاندې لیکل شوی کتاب دایران چاپ .

، چه پدې حساب داو یلای شو، چه تاریخ له انسان سره یوځای دنیا ته راغلی دی ،

ځینی منابع(۱) دانسان دراتګ نېټه دمځکې پرمخ درې سوه او پنځوس زره (۳۵۰۰۰۰) کاله پخوا ګڼی .

مګر دهغو آثار واو آسنادو له مخې چه پدې وروستیو وختو کښې په اروپا کښې لاس ته راغلی دی ، ویل کېږی چه دانسان دراتګ نېټه دمځکې پرمخ څلور سوه زره (۴۰۰۰۰۰) کالو ته رسېږی .

«راوندی» لیکی : (۲) چه دلومړنی انسان له پیدا کېدونه تراوسه پورې دوه سوه زره (۲۰۰۰۰۰) کاله تېر شوی دی .

خو پروفیسر آرنولډ تاین بی معاصر فیلسوف او نومیالی مورخ د لندن دپوهنتون استاد وائی : (۳) دمځکې پرمخ دانسان منځ ته راتګ له شپږ سوه زره (۶۰۰۰۰۰) کالونه هم تیری کوی .

لکه څرنګه چه دمخه موو ویل تاریخ له انسانیت سره یوځای دنیا ته راغلی نو بنا پدې تاریخ هم لکه انسان (دهر څومره مودی نه چه دهغه راتګ شروع کېږی دوه یا دری نیم او یا شپږ سوه زره کاله) هماغومره عمر لری .

پهر حال وروسته دلومړی اشتراکی له دورې نه چه په تولیداتو او تولیدی وسائلو کښې خصوصی مالکیت منځ ته راغی او دهغه په اثر په بشری ټولنه کښې طبقات لکه : استثمار کوونکی او استثمار کېدونکی غلام او بادار ، غالب او مغلوب پیدا شول .

دتاریخ ددې تعریف له مخې چه عبارت دی دطبقاتو له مطالعې څخه ، نو بنا پدې تاریخ دغلامۍ ددوری له ابتدا نه شروع کېږی او ترنن ورځې پوری په یو ارتقائی او تکاملی شکل ادامه لری (۴) .

---

(۱) «تاریخ عمومی عالم» ۶ مخ

(۲) تاریخ تحولات اجتماعی ۲۰ مخ دایران چاپ .

(۳) فلسفهٔ نوین تاریخ (۲۱مخ) دایران چاپ .

(۴) داچه دغلامۍ دوره په کوم کال یا زمانه کښې منځ ته راغله یوه واقعی نېټه ئی نده څرګنده خو داچه کومو عواملو غلامی منځ ته راوسته وروسته به ئی دتاریخ ددورو په ترڅ کښې مطالعه کړی . «سابی»

تاریخ په څو دورو ویشل شوی دی ؟

په عمومی ډول تاریخ په دوه لویو برخو ویشل شوی دی لکه :

(۱) ماقبل التاریخ

(۲) تاریخی دوره .

ماقبل التاریخ :

لکه څنګه چه دمخه موو ویل تاریخ له هغه وخت نه شروع کیږی کوم چه د لومړی ځل دپاره انسان دځان دساتنی او یا دمعیشت په منظور یوه تولیدی او یا تدافعی آله جوړه کړه دادوره زښته ډیره اوږده او دلیك ترایجاده پورې ځنډلی ده دغی دوری ته ځینو د وحشت دوره هم ویلی ده .

آرکیالوجستانو اومورخینو دهغو آلاتوا وافزارو او آثارو له مخی چه له ډیرو لرغونو انسانانو څخه پاته شوی او ترا وسه پورې ددوی په لاس ورغلی دی دهغو له علمی تحقیق او تصنیف نه وروسته دهغو دنوعیت او کیفیت په اساس دځینو فرضیو په شمول د بشر ماقبل التاریخ زمانه ئی په دری لویو دورو ویشلی ده لکه :

۱ - دپیلې او لیتیك دوره (لرغونی ډبره) یا دناتوږلې ډبرې دوره چه سل زره کاله ځنډیدلې ده،

۲ - دنیو لیتیك دوره (نوې ډبره) یا دتوږل شوی ډبرې دوره چه اووه زره کاله ځنډیدلې ده.

۳ - د کلکو لیتیك دوره (دفلزاتو دوره) چه څلور زره کاله ځنډیدلې ده(۱) او ترنن ورځې پوری په یوارتقائی او تکاملی شکل ادامه لری(۲)

تاریخی دوره :

دغه دوره چه ځینو دمدنیت دوره هم بللې ده له هغه وخت نه شروع کیږی کوم چه دلومړی ځل دپاره بشر دلیك (په هر شکل چه ؤ) په ایجاد بریالی شو .

---

(۱) ځینې منابع دماقبل التاریخ زمانه په څلورو دوروو یشی پدې ډول چه دفلزاتو دوره چه دلته مونږ یوه دوره بللې ده دوی ئې په دوه دوروویشی او په یوې دورې ئې دبرونز (مفرغ، طونج) نوم ایښی او بله دوره ئې داوسپنی په نامه یاده کړیده .

(۲) څرنګه چه دما قبل التاریخ ددورو دخصوصیاتو او کیفیاتو او مشخصاتو ښودنه دلته زمونږ دبحث له موضوع نه لږ بهر شانته ښکاری نو ځکه دهغو له شرحی او تفصیل نه صرف نظر وشو او یوا ځې دهغو دنامه په تشه یادونه اکتفا وشوه .«ساپی»

اوترنن ورځی پوری به یوتکاملی شکل ادامه لری، داچه بشر کله دلومړی ځل دپاره لیك منځ ته راووړ، داهم پوره نده څرګنده خو دهغو کتیبو له مخې چه تراوسه پوری دآر کیا لوجیستانو اومورخینو په لاس ورغلی دی اوهغه ئې دتاریخی دورې اساس اومبداء ګڼلی ده دهغو دلیکنې نېټه ترمیلاده اووه زره کاله پخوا ګڼی(۱)

مګر ځینې منابع دغه نېټه ډېره زیاته اومبالغه ئې ګڼی اووائی چه په دنیا کښې ترهرچا دمخه لومړی فنیکیان بیا مصریان او بیا بیا سومریان دلیك په ایجاد بریالی شول اوډېر لرغونی لیك چه تراوسه پلاس راغلی، هیروګلیف (مقدس لیك) دی چه مطالب به یکښې د تصویر اورسم په شکل افاده کېدل اودغه لیك مصریانو منځ ته راوړی او نېټه ئې هم ترمیلاده پخوا درې زره کالونه تېری نه کوی(۲)

دغه تاریخی دوره مورخینو دځینو ستروا و درنو پېښو په اساس چه پدغه زمانه کښې پېښې شویدی په څلورودور و وېشلی ده لکه:

۱- قرون اولی (لرغونی تاریخ یالرغونی پېړۍ) دلیك دایجاد له لومړنۍ نېټې نه شروع کېږی او تر ۳۹۵ میلادی کال پورې یعنی کله چه دروم امپراتورۍ په شرقی اوغربی برخو وېشله کېږی دوام کوی (۳) اویا دلیك دایجاد له نېټې نه یعنی اووه زره کاله پخواله میلاده شروع کېږی او تر ۳۷۵ میلادی کال پوری چه په اروپا کښې داقوامو عمومی لېږدېدنه (مهاجرت) صورت نیسی ځنډېږی چه پدغه حساب دغه دوره (قرون اولی) ۷٤ پېړۍ ځنډېدلې ده (٤)

۲- د قرون وسطی تاریخ: (دمنځنیو پېړیو تاریخ) له ۳۹۵ میلادی یعنی دروم دامپراتورۍ له وېش نه شروع کېږی تر ۱٤۵۳ میلادی کال پوری ځنډېږی یعنی کله چه قسطنطنیه د عثمانی ترکانو په لاس وپرانستله شوه (۵) اویا د ۳۷۵ میلادی کال نه (دعمومی مهاجرت له نېټې نه) شروع کېږی او تر ۱٤۵۳ میلادی کال پوری ځنډېږی چه پدغه کال کښې ترکانو استامبول وپرانیست او (۱۱) پېړۍ ځنډېدلی ده (٦)

۳- دنویو پېړیو تاریخ: دقسطنطنیې له پرانستلو نه (دعثمانی ترکانو په لاس) یعنی

---

(۱) دلسم ټولګی تاریخ دښاغلیو غبار اودوست محمد تألیف.
(۲) تاریخ تحولات اجتماعی د ایران چاپ ۹۷ مخ
(۳) تاریخ تحولات اجتماعی دراوندی تألیف دایران چاپ ٦ مخ
(٤) دلسم ټولګی تاریخ دښاغلیو دوست محمد اوغبار تألیف ٤ مخ
(۵) تاریخ تحولات اجتماعی دایران چاپ ٦ مخ
(٦) دلسم ټولګی تاریخ دښاغلیو غبار اودوست محمد تألیف ۵ مخ

له ۱۴۵۳ میلادی نه شروع کیږي او تر ۱۷۸۹ میلادی کال پورې چه پدغه کښې کال دفرانسې لوی انقلاب پېښ شو، څنډېږی(۱)

او یا له ۱۴۵۳ م کال نه چه داستامبول دپرانستلو نېټه ده شروع کیږی او تر ۱۷۸۹م پورې چه پدغه کال کښې د فرانس لوی انقلاب پېښ شوی دی څنډېږی دغې دورې تقریباً ۴ پېړۍ دوام کړی دی. (۲)

۴ معاصر تاریخ یا وروستۍ پېړۍ: دفرانسې له لوی انقلاب د (۱۷۸۹م) کال نه شروع کیږی او تر نن ورځې پورې دوام لری (۳) دتاریخی دورو سر بېره پرد غو ویشلو څېړنې منابع عقیده لری چه هغه پېښه او یا عوامل چه لومړنۍ پېړۍ (قرون اولی) ئې په منځنۍ پېړۍ (قرون وسطی) بدله کړه هغه دمسیح دین (عیسویت) ؤ او بیا هغو پېښو او یا عوامل و چه منځنۍ پېړۍ ئې په نوې پېړۍ و اړوله هغه داسلا دین ؤ او هغو پېښو او عوامل و چه نوې پېړۍ ئې په روستۍ یا اوسنۍ پېړۍ بدلې کړی هغه دفرانسې لوی انقلاب ؤ چه په ۱۷۸۹ میلادی کال کښې پېښ شوی دی.

لکه څنګه چه دمخه موو ویل ددغو پورته تاریخی دورو ویش دستر وا و مجرد و پېښو په اساس بنادی، حال داچه پخپله مجرده واقعات که هر څومره ستر او درانه هم وی دعلمی تاریخ دبحث موضوع نشی کېدای او دغه راز و یش یو الحې نسبی او اعتباری دی. نو بنا پدغه پورتنی تقسیمات دتاریخ په علمی نظر کښې هیڅ ډول ارزښت او اعتبار نلری ځکه تاریخ یوالحې پخپله مجرده واقعات نه مطالعه کړی بلکه د تاریخ د بحث موضوع (چه وروسته به ئې تفصیل راشی) دهغو شرائط و او عواملو تحقیق او مطالعه ده چه دغه راز واقعات ترې زېږی. نه پخپله واقعات او هغه عوامل او شرائط چه واقعات او انقلابونه (لوی تحولات) زېږوی هغه دبشر تولید، دتولید طرز، دتولید مناسبات، کار او دکر وسائل دی. نو که چېرته دتاریخی دورو ویش ددغو عواملو دنوعیت او کیفیت په اساس بنا شی زیاتره علمی جنبه ځانته غوره کوی.

کارل مارکس ده فلاکت فلسفه » په کتاب کښې لیکی: « کارد کار وسائل، تولید دتولید طرز او دتولید مناسبات له مولده قواؤ سره پوره اړیکی لری.

بشر کله چه خپل دتولید طرز ته تغییر ورکوی دهغه ټول اجتماعی روابط تغییر مومی او زیاتوی چه لاسی ژرنده دغلامۍ رژیم، بادی ژرنده دملوك الطوائفۍ رژیم او بخاری ژرنده

---

(۱) تاریخ تحولات اجتماعی دراوندی تألیف دایران چاپ ۶ مخ

(۲) د لسم تو لګی تاریخ دبناغلیو غبار او دوست محمد تألیف ۵ مخ

(۳) تاریخ تحولات اجتماعی او دلسم تو لګی تاریخ.

دسرمایه داری رژیم منځ ته راولی» اوبنایه همدی وائی چه: «که دبشر تاریخ له سرنه تریایه پوری ملاحظه کړی شی، دهغه په جریان کښی اصولاً پنځه ډوله دتولید اساسی روابط لیدل کیږی لکه:

۱- دلومړی اشتراکی رژیم. ۲- دبردگی (غلامی) رژیم. ۳- دملوك الطوائفی رژیم- ٤- دسرمایه داری رژیم. ٥- دسوسیالستی رژیم.

رښتیاهم داده چه آلات او افزار یاتولیدی وسائل اودتولید طرز اومناسبات اوروابط له یوخوا تاریخی اسناد دی چه دهغوله مطالعی اوخیړنی نه دبشر دژوندانه حالات او کیفیات حتی نیټه اودهغو کلتور اومدنیت معلومیږی اوله بلی خوا دبشر اجتماعی، سیاسی، او اقتصادی اونورو اوضاعوته یوځانله بڼه او خصوصیت ښیی.

نوبنایه دی دتاریخ دعلم له نقطهٔ نظره دبشر عمومی تاریخ دهغو ښکاره تغیرا تو او بدلیدنو په لحاظ چه دهغوی په تولید اوتولیدی مناسباتو او روابطو کښی لیدل شوی دی دمارکس دوبش په اساس په پنځه دورو وبشل کیږی لکه:

۱- دلومړی اشتراکی دوره.

۲- دبردگی (غلامی) دوره.

۳- دفئودالیتی (ملوك الطوائفی) دوره.

٤- دکاپیتالیستی (سرمایه داری) دوره.

٥- دسوسیالیستی دوره.

دغه پورته دوری دتولیدی قواؤ دتکامل دسیر په ترڅ کښی منځ ته راغلی اوهره دوره دیوراز تولیدی قواؤ انعکاس اوزیږنده ده. په دی ډول:

۱- دلومړی اشتراکی دوره:

هغه وخت چه دبشر تولیدی وسائل لکه یخپله بشر ساده او ابتدائی ؤ اوعبارت ؤ له ډبرینو آلاتو، غشی اولینډی څخه څرنګه چه دغه آلات ډیر ساده او محدود ؤ او یوالحی دهغو په مرسته بشر نشو کولای چه خپل معیشت تأمین کړی اوبا له ځان نه دځیرونکو او دارونکو ژوبوله حملی څخه دفاع وکړی. نوددغو تولیدی وسائلو او افزارو اوآلاتو دعدم کفایت له کبله انسانان طبعاً اوجبراً په ګډه اوسیدل اوپه ګډه به ئی ژوند او دځان مدافعه کوله څرنګه چه خصوصی مالکیت په هروخت کښی ایجابوی چه دتولنو په منځ کښی طبقات منځ ته راشی اودوی یوله بله سره بیل کړی نوځکه ددغی دوری خلکو دخصوصی مالکیت نه هغومره احتراز کاوه چه یو کاپیتالیست ئی نن له اشتراکیت نه کوی. داخوځکه

چه خصوصی مالکیت پدوی کښی طبقات لکه غالب او مغلوب، شته من اوی بستثنا لمی رازو کوونکی او استثمار کیدونکی او نور چه بیا هره طبقه دخپلو منافعو دسا تلو دپاره همیشه پوله بل سره په جګړه اخته کیږی بیدا کول او بیا ددغو طبقاتو دپیدا کیدو له کبله دوی پوله بله سره بېلیدل او په نتیجه کښی د ګډژوند دنه لرلو له کبله د فنا او نا بودی خوا ته تلل .

۲ - د غلامی دوره :

دبشر تولیدی وسائل آلات او افزار دمسو د کشفیدو سره سم (۱) بل شکل ځانته غوره کړ او نسبت دلومړی اشتراکی دوری له آلاتو او افزارونه ډیر قوی، موثر او په زړه پوری شول. وحشی حیوانات لکه آس، سپی، پسه، غوا ئی اهلی کړی شول، لاسی صنائعو رواج وموند او د کار تقسیم منځ ته راغی .

دتولیدی آلاتو شمیر او تولیدات هم زیات شول او هرچا په ځان کښی د خپل معیشت او مدافعی توان او طاقت ولید نو ځکه پدغه دوره کښی وګړو دقوی او موثرو آلاتو او وسائلو دلرلو له کبله له یو خوا له اجتماعی معاونت او مرستونه لیږغوندی ځان مستغنی وګاڼه او له بلی خوا په تولیدا تو او تولیدی وسائلو کښی خصوصی مالکیت منځ ته راغی چه بیا دخصوصی مالکیت دپیدا کیدو او له اجتماعی معاونت نه دمستغنی کیدو په نتیجه کښی هم طبقات منځ ته راغلل او هم اشتراکیت له منځه ولاړ .

کله چه خصوصی مالکیت منځ ته راغی هر څوک پدی پسی شول چه خپل دملکیت لمنه پراخه کړی که په هره وسیله وی . او هغه ډیره ښه او موثره وسیله چه زیات تولیدات منځ ته راوړی هغه دانسان د کار قوت او طاقت او نور تولیدی آلات او افزار دی، نو ځکه هغو چه غوښتل دخپل ملکیت لمنه پراخه کړی تر هر څه دمخه به ئی کوښښ داؤ چه دتولید د وسائلو او دانسان چه تولیدات منځ ته راوړی څښتن او مالک شی . نو ځکه پدغه دوره کښی لومړی خصوصی مالکیت او بیا غلامی منځ ته راغله (۲) څرنګه چه دخصوصی مالکیت او ورپسی دطبقاتو راتګ دهمدی دوری ایجابات او خصوصیات دی تاریخ چه عبارت دی د طبقاتو له مطالعی او تدقیق څخه نو ویلی شو چه تاریخ په اساسی ډول له همدې دوری نه شروع کیږی .

---

(۱) مس ځکه تر هر فلزه پخوا کشف شو چه دنورو فلزاتو په خلاف په آزاد ډول هم دمځکی پر مخ پیدا کیږی .

(۲) داچه غلامان په څه ترتیب لاس ته راتلل کیده او یا دغلامانو سره دمالکانو مناسبات په څه ډول ؤ او یا دغلامانو څه حال ؤ څرنګه چه ددغو سوالونو تفصیلات او شرح له یو خوا زمونږ د موضوع لمنه اوږدوی او له بلی خوا لیږغوندی ددی بحث له موضوع نه هم بهر شانته ښکاری نو ځکه له هغو څخه منصرف شو، او یوا ځی مو دهغو عواملو په لنډه شرح چه غلامی ئی منځ ته راوستله اکتفا وکړه . «ساپی»

۳- دملوك الطوائفی دوره:

دغلامۍ دوره ترهغه وخته پورې ځنډېږی چه وسپنه نه ده پیدا شوی خو کله چه انسانانو وسپنه پیدا کړه دهغوله پیدا کیدو او په کار اچولو سره سم لومړی تولیدی وسائلو بل شکل ځانته غوره کړ او دښکار اولاسی صنائعو دوسائلو ځای سپارې، بیل او کلنګ و نیو.

ددغو تولیدی وسائلو په مرسته انسانانو وشو کړی چه شاړی او کنډی کپری مځکی د کرهڼی دپاره اماده کړی او له هغې نه غله په لاس راوړی.

دغلی دلاس ته راوړلو سره سم کرهڼه رواج شوه او دخلکو ژوند له ښکار، دام ایښودلو اولاسی صنائعو او کب نیولو نه په یوزراعتی سبك بدل شو. له وسپنی نه، نه یواځی په فلاحت او کرهڼه کښی استفاده وشوه بلکه په نساجۍ او نورو لاسی چارو کښی هم تری کار واخستل شو او په نتیجه کښی دوسپنی دطاقت په مرسته تولیدی وسائل او تولیدات زیات شول او تولیدی مناسباتو او روابطو هم بل شکل ځانته غوره کړ.

خصوصی مالکیت چه لا یخوا دغلامۍ په دوره کښی منځ ته راغلی ؤ په دغه دوره کښی پرته له نورو چارو په مځکو کښی هم منځ ته راغی او دهغې په نتیجه کښی دمځکو لوی لوی ملاکین پیدا شول دغو ملاکینو په راز راز لارو لکه زور، چل، فریب او کوچنیو بزګرانو او نورو بې وزلو ته دقرضی دلاری د خپل ملکیت لمنه نوره هم پسی پراخوله.

د خلکو ددغه وخت اجتماعی او اقتصادی اوضاع (چه دا ګرده دتولید دیو خاص ډول او دتولید دوسائلو او مناسباتو او روابطو انعکاس او زیږنده ده) بالاخره ایجاب کړ چه دملوك الطوائفی رژیم منځ ته راشی. دغه رژیم په ابتدا کښی یو خاصه اقتصادی جنبه درلوده خو وروسته دملوك الطوائفو اقتدار دومره زیات شو چه ځانته ئی عسکر پیدا کړل سکه ئی ضرب کړه، دخلکو په اقتصادی او اجتماعی چارو کښی ئی لاس وموند. نو ځکه ملوك الطوائفی زیاتره یوه سیاسی او نظامی بڼه غوره کړه. او دغه زمانه چه د هغې په ترڅ کښی ملوالطوائفان په اقتدار وو هغی ته دملوك الطوائفی دوره ویل کیږی (۱)

۴- دسرمایه داری دوره:

د ملوك الطوائفی دوره ترهغه وخت پورې ځنډېږی چه ماشین لانه دې اختراع شوی او خلکو ټولې چارې په لاسو سره کولې نو طبعاً تولیدات هم محدود

---

(۱) داچه ملوك الطوائفو دمځکو دمزدورانو او خپلو عساکرو سره څه مناسبات درلودل او یا دهغو تشکیلات څنګه او اقتدارئی څومره ؤ څرنګه چه ددغو ټولو مسائلو شرح دلته زمونږ د بحث له موضوع نه بهر شانته ښکاری نو ځکه له هغو څخه منصرف او یواځی دهغو عواملو په شرح چه ملوك الطوائفی ئی منځ ته راوستله اکتفا وشوه. «ساپی»

او لږ ؤ او تو لیدی مناسبات او ر و ا بط هم په هما غه شان او په هما غه تنا سب و ا
خوچه ماشین اختر ا ع شو . دد غې تو لیدی و سیلی د اختر ا ع سر ه سم تو لیدا تو
او تو لیدی منا سبا تو او تو لیدی ر و ابطو یو بل ازد یا دی او ار تقائی شکل ځا نته
غوره کړ . لاسې چارې او صنائع له مود ا و ر و ا جه و لو ېدې ځکه د ما شین سر ه
ددوی سیالی نه و ه برابره یو جو لا چه تو له و ر ځ به لګیا ؤ له پنځه متره تو کر څخه
ئې ز یات نشو تو لید ولی . حال د اچه ماشین په یو ه و ر ځ په ز ر ها ؤ متره تو کر
تو لید وی . په همدې ډول تولې کور نۍ او کلیوالی کار ګا ه شنډی شوی او د کار ګا هو
مالکینو خپل خپل کسبو نه پر ېښود ل او و لا ړ ل په فا بر یکو او ما شین خانو کښې
معمو لی کا ر ګران شر ل او خپل د کا ر قد ر ت ا و طا قت ئی د فا بر یکو په
مالکینو و پلو ره په همد ې ډ و ل مثلا سل تنو بز ګرانو چه پخوا به په یوه مزرعه کښې
په کښت لګیا ؤ ا وایله دوه سو ه جر یبه مځکه به ئی کر له . مګر کله چه ترا کتور و نه
ا وراز راز ز ر ا عتی ما شینو نه منځ ته اغلل نو په یوه ور ځ کښې د سلها و جر یبو کر ل
د یوه ترا کتور په ذریعه یو عـادی او معمولی کار شو. نو څر نګه چه د هغو سلو تنو بز ګرانو ځای
یوه ترا کتور و نیوه او هغه سل تنه تول وز ګار پا ته شول نو دوی هم مجبوراً د کلیو نه صناعتی
ښارو نو ته ولاړل او د خپل د کار قدرت او طاقت ئې د فابریکو په مالکینو و پلوره د دغو عواملو
له کبله په نتیجه کښې ولسو نه زیاتره د لویو سرمایه دارانو په فابریکو کښې ننو تل او تول
د فابریکو بی وسیلی کار ګران یعنی په اقتصادی اصطلاح (پرولیتاریان) شول د دوی د اضافی
تولیدا تو (۱) په اثر د ملتو نو سرمائی د لویو سرمایه دارانو په لاس تولی او متمر کزی شوې
او د طبیعت د دغه قانون له مخې چه باید د یوه شی لوړیده حتماً د بل شې په کوزیدو منتج شی .
په همدی ډول بداسې حال کښې چه د سرمایه دارانو سرمایه ورځ په ورځ زیاتیږی نو رخلك
په تیره بیا بر و لتران (بی وسیلی کار ګران) د بی و ز لتوب کند ی ته لو یږی (۲)
پدغه دوره کښې د تولید تول آلات د بیل نه نیولی تر ترا کتور او بیا د جا کټ او بدلو له
سیخانو نه نیولی تر تولو لویو فابریکو پوری ګرده د خصوصی مالکیت تر عنوان لاندی د افرادو
او اشخاصو په لاس کښې دی او تولی ګټی او منافع ئی هم د هغو په جیب کښې لویږی .

---

(۱) اضافی تولید په اقتصاد کښې هغه ته ویل کیږی مثلا: یو کار ګر په یوه فابریکه کښې د ورځې (۱۰) ساعته کار کوی او تولیدات منځ ته راوړی. د فابریکی څښتن ده ته د ومره مزدور کوی چه د هغه ارزښت معادل او متناسب د ی د ده له شپږ ساعته تولیدی کار سره، نو د هغو نورو (٤) ساعتو نو چه ده کار کړی او تولیدات ئې منځ ته راوړی، هغه ګرده د فابریکی مالك ته پاته کیږی، چه د کار ګر د دغه زیاتی وخت تولید اضافی تولید) ګڼل کیږی .

(۲) داچه د پرولیتاریانو (بی وسیلی کار ګرانو) او د فابریکو یا نورو تولیدی وسائلو د مالکانو تر منځ متقابله مناسبات په څه ډول دی؛ یا داچه دولتو نو پخپلو اقتصادی اوضاعو کښې د افراط او تفریط د مخنیوی د پاره کوم تدابیر سنجولی او که نه؟ څر نګه چه دا سوالو نه خاصتاً اقتصادی مسائل دی نو ځکه د هغو له شرحی نه دلته انصراف وشو. «سا پی»

پاته په ۳ پشتۍ کښې

څرنګه چه دغه زمانه (چه ترنن ورځی پورې لاهم په ها خپل اقتدار پائی) ګرده د سرمایه دارو په منافعو څرخی نو ځکه د سرمایه دارۍ دوره ګڼل شویده (۱)

۵ - دسوسیالستۍ دوره :

دسرمایه دارۍ دوره لاله خپله برمه نده لوېدلې چه دهغی په څنګ کښی یو بل اقتصادی رژیم د سوسیالستۍ په نامه منځ ته راغی او دادی په ډېر ګړندی تګ د دنیا په هر ګوټ کښی خپرېږی کومو شرائطو او تولیدی وسائلو چه د سرمایه دارۍ رژیم ئې منځ ته راوړ چه هغه عبارت ؤ له ماشین څخه کټ مټ هغو شرائطو او تولیدی وسائلو (ماشین) دغه رژیم (سوسیالستی) هم منځ ته راوړ خو د دغو دواړو رژیمو نو ترمنځ تو پیر یوا ځی پدی کښی دی چه په سوسیالستۍ کښی د سرمایه دارۍ په عکس په تولیدی وسائلو کښی خصوصی مالکیت نشته تولیدی وسائل او د تولیدانو توزیع ټول د سوسیالیستی دولت (ملت) په لاس کښی دی، دهغو سود او زیان ګرد مستقیما په ملت پوری اړه لری وائی چه په دغه رژیم (سوسیالستۍ) کښی د خصوصی مالکیت د نشتوالی له امله طبقات لکه سرمایه دار او بی وزلی غالب او مغلوب ، استثمار کوونکی او استثمار کیدونکی ټول له منځه ځی او یوه مشترك المنافع ټولنه منځ ته راځی (۲) داؤ هغه عوامل او شرائط چه دغه پورته پنځه تاریخی دوری تری زیږیدلی او بیا دغه دورې په یوه علمی صورت یو د بل نه سره جلا کړی شوی دی .

که چېرته د تاریخ علم عبارت وی د تیری زمانی د پېښو د دعواملو او شرائطو له تحلیل تدقیق او تحقیق او یا د پېښو د علت او معلول او دهغو ترمنځ د روابطو له بندولو څخه. نو دغه پورته پنځه ذکر شوی دوری چه یو په بل پسی د مختلفو شرائطو او عواملو او علتونو د ایجاب سره سم منځ ته راغلی دی باید چه د تاریخی دورو په ویش کښی دغه راز ویش د تاریخ د علم له نقطهٔ نظره علمی او ثقه و ګڼل شی او تاریخی تقسیمات هم باید پدغه اساس وی . نه هغه دوری چه خلکو د مجرد و سترو پېښو په اساس یو د بل نه سره بیلی کړی او هغه ئی بیا تاریخی دوری ګڼلی دی .

---

(۱) دی دورې هم په ابتدا کښی لکه ملوك الظوائفی خاصتاً یوه اقتصادی بڼه درلوده خو وروسته په انتخاباتی او پارلمانی چارو کښی د سرمایه دارانو مالی مداخله دومره موثره واقع شوه چه زیاتره حکومتونه ئی د خپلو منافعو د پاره رویکار او استعمال کړل. نو ځکه ئې سیاسی رنګ اختیار کړ او خلکو د سرمایه دارۍ (رژیم) وباله «ساپی»

(۲) څرنګه چه سوسیالستی خاصتاً یو اقتصادی سیستم دی او د هغه په شاوخوا کښی تردې نه زیات غږیدل له خپلی موضوع نه وتل او د اقتصاد په علم کښی ننوتل دی نو ځکه په همدغه مختصر اکتفا وشوه. «ساپی»

د۳ پشتۍ پاته

ماواور ېدل چه د ملوك قبروران شوی دی او د ښاغلی عدالت په امر د دی خبری په اورېدلوزه د فکلور دور کېدلو او محوه کولو پر بنا مجبور شوم چه ښاغلی عدالت ته ووایم چه دا پښتنی فکلور محوه نه کړی هغه هم دا وعده راسره وکړه چه دی خوانه توجه وکړی د ملوك قبر نور څه نه وکړی خود مجنون اولیلی د فرهاد او شرین او دا ډول نورو ملګرو دپاره ئې د دوی دافسانو دښکاره کولو په غرض خپله غېږ خوره وره کړی وه یعنی هلته د ده په نامه سینما جوړه شوی وه (دا سینما پخوا د جوز جان په نامه بلله کېدله خود مطبوعاتو دهیئت نظریه پردې شوله چه د سیف الملوك په نامه وبلله شی)

سیف الملوك اوس هم د میمنې دښار پر یوه لوړه غونډۍ د دردمندی د نیا سلطانی زغوله او هر دردمند چار او ناچار ده ته عرضی راتلای شوای او ده د دې ډول دردمندانو سره د حال په ژبه راز او نیاز درلود. څه خبری هم چه د دې مقالې ویونکی به ئې ومنی او که نه خوزه دا خبره کوم چه د ټولې میمنې هیڅ ځای ته زه پخپله یوازی نه یم تللی او نه دا ډول یو اثر پیدا شوی دی چه ما هلته کش کړی یوازی د ملوك کشش زه دی ته مجبور کړم چه به شنه خړه د ده پر قبرو ګرځم زه و ګرزېدم او یوه ښه ګړۍ «دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی* د همه ؤ مخلوقاتو پلار دی دا». او ه د مینی او ګد از د ملوکیت هغه جذبه چه زما پر زړه ئې حکومت وکړاو د خپل طواف کولو الزام ئې پر ما په خپل زور ولګاوه.

دا الزام د غوړی ډوډۍ، د منصب ور کولو د مالی امداد او دا ډول نورو هیلو دپاره نه و مګر د مینی او عشق د سلطان هغه اثر خو وو که نه. چه ما مجبور کړی چه زه د څو قرنونو وروسته د زړه په امر دې نړېدلی قبر له ورشم او د لویو لویو قصر نولیدنی او کتنی ته شاو ګرزوم.

دا وه د ملوك د ملوکیت هغه خاطره چه ما د هېرولو وړ نه ګڼله او د سفر د ما جرا یوه برخه شوله.

د میزان په (۱۳) د سهار پر ۹ بجې د میمنې څخه دالو تکی په واسطه د کابل پر خوا راروان او پر ۱۲ بجی کابل ته راورسیدلو.

جوړ کړل شي .

او داسې دی لکه چه تاسې دخپلې ګرانې معشوقې داستوګنې دپاره یو ځای ورانوی ء او دهغه ځای دخښتو او ختو دپاره تاسې ختې په خپلو وینو خیشته کړی ء!

یا داسې دی لکه چه تاسې دخپلې ګرانې معشوقې دپاره د ځمکې په مخ ډول ډول تخمونه شیندی ء! او یا دمینې په نېشه کښې ډوب دهغې دپاره لو کوی ء. یا داسې دی لکه چه تاسې ټول کائنات په خپل سرو دانوی ء. او په دغه وخت کښې تاسې په خپلو ستر ګو ګوری ء! چه ستاسې ټول اعمال او زیارونه له تاسې څخه چا پیرولاړ دی او ستاسې د کامیابۍ او بریالی توب ننداري کوی ؛

په تاسې کښې ما د ځینو خلکو څخه ځینی خبرې اوریدلې دی او هغه داسې خبرې دی چه د هغو په اوریدلو زما دا خیال وشو چه د وی په خوب کښې د ځان سره غږ ېږی. او هغه خبرې داوې چه ځینو ویل : هغه څوك چه دمر مرو له تېږو څخه ښکلی مجسمې جوړوی او په دغو مجسمو کښې دخپل فن په زور خپل روح ننه باسی دهغه چا څخه ډېر جګ مقام او قدر لری چه هغه یوا ځې دځمکې په کیندلو بوخت او دبز ګرۍ کسب کوی .

او هغه رسام چه دخپل فن په زور د اسمان د جګې فضا څخه قوس قزح (سره زرغونه) د کاغذ په مخ را کښته کوی. او یا د کاغذ په مخ د خپل فن په یو ډېر لږ رنګ کښې انسانی خصوصیات او بڼه پیدا کوی دهغه شخص په نسبت دډېر جګ مقام اولوړ حیثیت خاوند دی چه دڅر منو او نو روشیانو څخه دانسانانو داستعمال دپاره پڼې موچڼې څپلۍ او بوټان او نورشیان جوړوی

مګرزه بیده نه یم، او نه په شپه کښې له تاسی سره خبری کوم ـ زه په دې ټکنده غرمه کښی په دې حال کښی چه وښ یم او فکرمی هم ښه برابر دی تاسی ته په جګ آواز وایم چه: هوا دشاه بلوط دښکلی او عظیم الشانی ونی په شا او خوا کښی هم ډېر ډول، ډول بی اهمیته واښه زرغون او ولاړوی.

مګر دډېر جګ فضیلت او حیثیت خاوند هغه څوك دی چه دفضا هوا دمینی په زور په اسمانی موسیقی بدله کړی.

محبت په حقیقت کښی دمحنت یو مهم مظهر دی ـ په هغه شکل کښی چه په ستر ګو ښکار ېږی! او محبت یو جسم دی چه ددغه جسم روح (محنت) دی.

که تاسی دمحبت له کبله محنت په ځان نشیء ګاللی بلکه محنت ته دمادی شیانو او یواځی ډوډۍ دپاره اوزه ور کوی ء نو په دې صورت کښی به دا کار ستاسی له پاره ډېر ښه وی چه خپل ټول کارونه په ځای پرېږدیء او دمسجد په دروازو کښې کښینیء او له هغو خلکونه سوال وکړیء چه دخپلو کارونو څخه په ډېره خوشحالیء دخپل خدای دیادولو دپاره دغه ځای ته راځی.

که تاسې دخپلې وظیفی سره مینه نه لریء په کراهیت او یواځې دډوډۍ دپاره خپله کومه وظیفه اجرا کویء نو تاسی په دې حقیقت یوه شیء!

چه دغه ډوډۍ ډېره بې خونده او داسې خرابه ډوډۍ ده چه په دې ډوډۍ پرته دهغو اشخاصو څخه چه دانسانیت د مفهوم څخه ډېر لری وی دصحیحو انسانانو دلوږې اور نشی مړ کولی، او په داسې ډوډۍ یواځې دهغو خلکو دلوږې اور مری چه له انسانیت څخه ډېر لرې او تش په صورت او ظاهری شکل انسانان وی که تاسی د کورو (انګورو) وښکی او دانې

په مینه او خوشحالۍ سره نشیء ځبېښلی نو تاسې په دې حقیقت پوه شیء چه دغه شراب به د زهر و نه ډك او ډېر ناکاره شراب وی دا ځکه چه ستاسې دغه دوظیفی سره بې علاقه ګی به زهر شی او په دغو شرابو کښی به ګډه شی او که تاسې د اسمان د ملایکو په څیر اسمانی بدلی هم ووا یی ء! لیکن که ستاسې په دغو اسمانی بدلو کښی د مینی او محبت چاشنی نه وی ' نو په دغه صورت کښی به ستاسې له دغو آسمانی بدلو څخه مالوچ جوړ شی او دخلکو په غوږونو کښې به وتومبلی شی ' او دادې دپاره چه خلك ستاسې دغه له مینی څخه خالی غږ وانه وری .

بیا یوی ښځې وویل: «مونږ ته دغم او خوشحالۍ په شا او خوا کښی څه ووایه!»

هغه ورته وویل! ستاسو خوشحالی په حقیقت کښې ستاسې هغه غم دی. چه اصلی نقاب ور څخه بیرته شوی او په خپله حقیقی بڼه ئې تاسې ته ځان ښکاره کړی دی .

هغه کوهی چه د هغه څخه ستاسې د خندا ګانو او ازونه بیرته انعکاس کوی 'هغه کوهی دی' چه ستاسې د اوښکو څخه ډك شوی دی .

که داسې نه وی نو پرته له دې څخه بل څه شی دی؟

څو مره غمونه چه ستاسې په زړونو کښی ځایونه نیسی په هغه اندازه ستاسې په زړونو کښی د خوشحالیو دپاره ډېر ګنجایش او ځای پیدا کېږی .

آیا هغه پیاله چه نن تاسې د شرابو څخه ډکه کړې ده هغه پیاله نه ده ؟ چه څو موده وړاندې د کولال په پجه کښی په اور کښی پرته وه !

آیا داشپیلۍ چه نن د هغې نغمې او خوازه آوازونه ستاسې په زړونو او روح کښی خوشحالۍ او تسکین پیدا کوی د لرګی هغه تو ته نه ده ؟ چه څه موده .

وړاندې په ارو او ترخځو (تیشو) نوزل شوی او پر ېکړی شوې او په برمو او دو سپنې په نورو آلاتو دهغې سینه سورۍ شوی وه؟

په کوم وخت کښې چه تاسې ډېر زیات خوشحاله شیء انو په دغه وخت کښې تاسې په خپل زړه کښې ځیرې شۍ او فکرو کړیء اد دغه غور او فکر په لړ کښې به تاسې دې نتیجې ته ورسیږۍ چه کوم شی چه ستاسې دغم او خپګان باعث دی، هغه ستاسې دخوشحالۍ باعث هم دی هر کله چه تاسې ډېرې خپه شۍ نو په خپل زړه کښې ځیرې شۍ او فکرو کړیء.

په دې لړ کښې به تاسې ته دا خبره ښکاره او معلومه شی. چه په حقیقت کښې تاسې په هغه شی پسې خپه یاستۍ اچه هغه ستاسې دخوشحالۍ باعث دی.

په تاسو کښې ځینې خلك داعقیده لری چه خوشحالی دغم نه ښه ده او ځینې داعقیده لری چه یه اغم دخوشحالۍ نه ډېر ښه دی.

لیکن زه تاسې ته وایم چه دا دواړه په خپلو منځو کښې ناقابل تفریق او ناقابل امتیاز دی.

دغه دواړه یو ځای راځی یو چه ستاسې په دسترخوان کښېنی! نو تاسې په دې یقین ولریء چه بل به ستاسې په بستره کښې بیده پروت وی.

دا یوه مثل شوې خبره د. چه ستاسې مثال دتلی دډنډې په شان دی چه ستاسې په یو سر او بل سر پورې دغم او خوشحالۍ دوه متضاد چابړی ځوړند دی.

هر کله چه دژوندانه خزانه دار دغه تله په لاس کښې واخلی او په دغه تله دخپلو سر واوسپینو زرو په تللو پیل وکړی نو په دغه وخت کښې دغه دواړه چابړی په خوځېدلو پیل کوي

او ددغو چابړو ډنډۍ دخزانه دار په لاس او قبضه کښې وی.

-۹-

بیا یو معمار راوړاندې شو!

«هغه وویل: مونږ ته دردانیو په شا او خوا کښې څه خبرې وکړه»

هغه مسک شو او په مسکی توب کښې ئې وویل:

په کلیو او ښارونو کښې د کورونو له ودانولو نه پخوا باید تاسې په خپلو تصوراتو کښې یو باغ جوړ کړیء، او دا ځکه چه لکه څنګه چه ستاسې جسم د ماښام په وخت کښې خپل کور ته راځی، هم دغه شان ستاسی آواره ګرد روح هم د خپل ټیکاو او استوګنی د پاره ځای پلټی.

ستاسې اصلی کور ستاسې جسم دی،

چه د لمر په رونړا کښې وېښ وی او د شپې په خاموشۍ کښې بېده کیږی.

ستاسې په دغه جسم کښې د خوبونو یوه نړۍ (عالم رؤیا) بنده ده.

آیا تاسې ته دا خبره معلومه ده چه ستاسې په دې کور کښې خوبونه نه لېدلی کیږی؟.

آیا د کور هغه اوسیدونکی چه ښار او ودانۍ نه د باندې د غرونو او رغو خواته ځی، نو هغه په داسې حال کښې ځی چه هیڅ خوب به ئې نه وی لیدلی؟

کشکی چه ستاسې ټولوا جسام ما په خپل موټی کښې را اخیستی او د یو دهقان او بزګر په څیر می په ځنګلونو او پټیو او غرورغو او لوړو او ژورو کښې شیندلی وای.

کشکی چه د غرونو درې ستاسې سر کونه وای او ستاسې د تګ رانګ ټولی لاری د ښکلو باغونو په څیر سمسورې وای.

او دا د دې له پاره چه تاسو دونو او انګورو په دغو سمسورو باغو کښې د یو بل سره پیژند ګلوی او مینه پیدا کړې وای. او په کوم وخت کښې چه ماښام خپلو

کورونو ته ستړی ستومانه بېرته راتلای نو دخپلو ځانو سره مودځمکی او خاورو خوږې وږمې راوړی وای.

مګر اوس دا کارنشی کېدلای. دا ځکه چه ستاسی پلرونه او نیکونه داسې بېرېدلی وو.

او له ډېرې بېری داسې وار خطا شوی وو چه هغوی خپلو اولادونو ته دا خبره ښودلې او ورزده کړې ده چه دخپلو پلرونو او نیکونو په څنګ کښې ژوند کوی ء!

یو څوورځې به داوېره نوره هم باقی وی.

یو څوورځې به نورهم ستاسې دقلاؤ دېوالونه ستاسی او ستاسې د فصلونو او باغونو په منځو کښې حایل وی. ای دعرفې خلکو! تاسې ما پوه کړی ء! چه ستاسی په دې کورونو کښې څه دی؟

ستاسو په دغو کورونو کښې کوم ګران او ذی قیمته شیان دی چه تاسې دهغو دحفاظت دپاره د کورونو دروازو ته پاخه پاخه قلفونه وراچوی ء؟

آیا تاسی ته دزړه ډاډ درحاصل شوی دی؟

یعنی دطلب هغه ذوق چه هغه ستاسې دقوت ډېر لوی مظهر دی؟

آیا ستاسې په زړونو کښې دماضی خاطرات شته؟ یعنی هغه قوت چه زړونو جګې هیلې دیوې بلې سره داسې یو ځای کوی لکه څنګه چه یو پل دسیندیوه غاړه له بلې غاړی سره یو ځای کوی.

آیا په تاسو کښې حسن شته؟ هغه ازلی حسن چه زړونه دکڼو او تېږو څخه جلا کوی، او دیو مقدس غره خواته ئې وړی.

ما په دې پوه کړی ء! ستاسو په کورونو کښې داسی کوم جنس شته؟ او که نه

او که له تاسو څخه پرته دلټۍ او تنبلۍ څخه هیڅ هم نشته تاسې په دې پوه شیء ! چه عیاشی دهغه غله نوم دی چه اول ستاسې کورونو ته دیو ګران میلمه په حیث راننوزی او وروسته بیا د کور خاوند او تاسې دده میلمانه شیء او څه موده وروسته د کور حقیقی خاوند دی شي او ستاسو په کور قبضه وکړی بیا دی تاسو سره لوبې او ساعت تیری کوی، او ستاسو د جګړ خواهشاتو او هیلو په لوبولو پیل کوی، بیا ستاسو په وهلو، ټکولو او تړ پیل کوی.

که څه هم دده لاسو نه دور ېښمونه پاسته دی، مګر زړه ئې د فولادونه کلک دی.

دی تاسی ته خپلې خوږې بدلې د دې له پاره اوروی چه د هغو په اثر تاسو د کوچنیانو په څیر بېده کړی.

او دا د دې له پاره چه ستاسو د بېده کېدلو نه وروسته دی ستاسو د بسترو په خوا کښې ودرېږی او ستاسو د فانی جسم په کمزوریو پورې په واز کومی وخاندی.

دی ستاسو په سلیم عقل پورې خندا کوی، او دی دا کوښښ کوی چه ستاسو دغه سلیم عقل په نرمو او پستو پردو کښې داسې ونغاړی لکه څنګه چه خلک د چینانو نازک لوښی په نرمو او پستو ټوکرانو کښې نغاړی.

حقیقت دا دی چه د عیاشۍ او آرام طلبۍ طلب او تمنا د انسان اعلی جذبات وژنی او خاوری کوی بی لیکن سره د دې دغې جنازی ته، دی په ډېره خوشحالۍ او خندا او زه ور کوی.

مګر اې د دې بسیطې فضا کوچنیانو! تاسې چه د سکوت په حالت کښې مضطرب کېږیء نو په دغه وخت کښې نه تاسو څوک نیولی شی او نه موغولولی شی.

ستاسو کور باید د ژوند د جهاز لنګر نه وی.

او نه دلنګر په شان قایم او په ځای ولاړ !

بلکه باید ستاسو کورونه بادبان وی. او د بادبان په څیر متحرك! او دا ددې دپاره چه د اسمان آزادې هوا ګانې، ورسره لوبی و کړای شی.

باید ستاسو کورونه د زخم دپاسه له وینو، زوو څخه ډك پوستکی نه وی.

بلکه دستر ګونرۍ پرده وی، چه دستر ګو حفاظت و کړای شی.

ستاسې دپاره دا خبره ضرور او لازمه نه ده چه کورته د ننوتلو په وخت کښې د دروازو پر دې پورته او یا خپل سرونه کښته کړیء، ددې له پاره چه سرونه مو په چت او یا دروازه ونه لګېږی.

او نه ستاسو سره ددې خبری فکر وی، چه که زه په زوره ساواخلم نو ددې سا په اثر به زما د کور دیوالونه وچوی.

تاسو باید په هغو قبرونو کښې ژوندون ونه کړیء، چه مړو ستاسو د ژوند له پاره جوړ کړی دی.

ستاسو کورونه که هر څومره شاندار، ښکلی او مضبوط وی مګر سره د دغو ټولو خبرو دغه کورونه باید ستاسو صادق طلب په خپلو دیوالونو کښې بند او محصور نه کړای شی.

دا ځکه چه ستاسو په وجود کښې پاك خدای یو دارازبې حده او بی نهایته جوهر ایښی دی چه هغه، د اسمان په وسعت کښې ځای او مقام لری.

ددې کور دروازه د سهار رڼا ده.

او د شپې د موسیقی په ډك سکون کښې ځلاند ستوری، ددې بچی دی !

-۱۰-

بیا یوه جولا وویل:

«مونږ ته دلباس په شا او خوا کښې څه نکتې بیان کړه!»

هغه وویل:

ستاسو کالی ستاسو په حقیقی حسن باندې پردې غوړوی، او هغه حسن دخلکو له نظر څخه پټووی.

کالی ستاسې حسن پټوی، لیکن ستاسې دوجود عیبونه او بدی نشی پټولی.

سره ددې چه تاسې خپل وجودونه په کالیو کښې پټ کړی دی، تاسې هغه آزادی هم غواړئ چه هغه آزادی دخفا په پرده کښې هم تاسې ته په لاس درتللی او حاصلیدلی شی، لیکن حقیقت دادی چه ستاسو کالی به ځای ددې چه تاسې ته په خپلو پردو کښې دننه د آزادی موقع درکړی، ستاسو له پاره له دغو کالیو څخه زولنې او ځنځیرونه جوړشی.

ارمان چه د کالیو موانع یا خوډ پرلږ وای او بائې قطعاً وجودنه درلودلای.

ستاسو وجود ونودلمر او هوا سره بې له کومې واسطې تماس درلودلای.

او ستاسو وجودونه دلمر دوړانګو او آزادې هوا سره اشنا او مانوس وای.

دا ځکه نفسی حیات عبارت دلمر دوړانګو څخه دی.

او دژوندانه قوت په آزاده هوا کښې پټ دی.

په تاسو کښې ځینی خلك دانظر به لری، چه شمال، بادونه او دموسمونو تغیر مونږ د کالیو اغوستلو ته اړ وی او له دې کبله مونږ کالی اغوندو!

هوا زه هم داخبره منم چه دغوشیانو تاسې د کالیو اغوستلو ته اړ کړی یاست!

مگر هغه د دغو کالیو سپنسی د بې شرمۍ په څرخه ورېشلی او په دغه وسیله ئې د ژوندانه د قوت ټول اعصاب او پلې بې کاره او سستې کړی او په دغو تارونو کښې ئې ګډی کړی دی.

هر کله چه بادونو او شمالونو ستاسو فاسد حجاب ته کالی ورواغوستل، نو هغه ځنګل ته ولاړ او په واز کومی ئی وخندل!

دا حقیقت هېر نه کړیء! چه هغه شرم او حجاب چه د جسم. د لباس او بربنډوالی سره تعلق لری، یو اځی د ګناهګارو او بد ستر ګو خلکو د سر ګو د پاره یوه پرده جوړه شوی ده.

که ستاسې په وجودونو کښې ګناه او بدی نه وی نو په دې صورت کښې د شرم او حجاب دا مصنوعی پردې څه معنی لری.؟

بې له دې چه دغه ستاسو کالی تش د فطرت د آزادیو د تړلو د پاره یو ځنځیر، او د ګناه یو ډول ناروغتیا وی چه پاك زړونه ناپاك او ایمان خراب، او د انسان پاك فطرت ککړ او آلوده کړی.

دا خبره یاده ولریء! چه:

په کوم وخت کښې چه تاسی پښې ببله په ځمکه ګرزیء! او ستاسو د پښو تلی په ځمکه لګېږی، نو په دغه تماس ځمکه ډیره خوشحالېږی.

د صحرا هوا دا هیله لری، چه ستاسو د لوڅو وېښتانو سره لوبې وکړی.

-١١-

بیا یو سوداګر وویل:

«مونږ ته د خرید او فروخت په خصوص کښې مشوره راکړه!»

هغه ورته وویل:

تاسو ته ځمکه خپلی ټولی میوې او نور ټول محصولات او پیداوار د نذر په ډول درکوی.

نو که تاسی دځمکی له دغو نذرونو او هدایاؤ څخه خپلی لمنی ډکی کړیء نو په دغه صورت کښې به تاسی هیڅکله چا ته اړاو محتاج نه شی!

که په تاسو کښې ددې خبرې صلاحیت هم پیدا شو چه دغه خدای در کړی نذرونه او هدایامو په خپلو منځو کښې وویشلای شول. نو په دی صورت کښې دا یقینی خبره ده چه تاسو به دهمیشه دپاره دهر ډول احتیاج څخه محفوظ او تل به هوسا، ماړه او پټ اوسیء!

لیکن په دی شرط چه ستاسو په منځو کښې دغه ویش او تبادله دمینی او انصاف په اساس وی، او په دی خبره کښې هم شك نشته چه په تاسو کښی به ځینې حارصان او بې انصافه خلك هم موجود وی. لیکن دا هم یو منل شوی حقیقت دی چه په دغه صورت کښې په تاسو کښې ډیر خلك داراز پیدا شی چه هغوی به بر بنډ، لغړ او ډیر بې وزلی وی.

ای هغو خلکو! چه: تاسو دسمندر په څپو او دځمکې په مخ په پټیو او باغونو کښې په زیار او کار بوخت یاست!

هر کله چه تاسو په بازارونو کښې دجولاګانو او بزازانو او هغو خلکو سره چه لوښی او نور اسبابو نه جوړوی مخامخ شیء. او د هغو سره په معامله او تبادله پیل کویء. نو اول دخپل مولا یعنی هغه پاك خدای نوم وا خلیء! چه دهغه په لاس او قبضه کښی دنړۍ د ټولو معاملو حسابونه دی، او دغه ټول حسابونه په خپل کامل قدرت لیکی.

بیا هغه تله یا که او صافه کړیء! چه د هغې په ذریعه تاسی معامله کویء او دقیمت په مقابل کښې جنس او دجنس په مقابل کښی یو بل ته جنس او قیمت ور کویء.

په دی موقع کښې تاسې دهغو چالاکو او طرارانو چالاکۍ ته ښه ځیر شیء

چه هغوی په‌خوږو الفاظو اوچالاکیو ستاسو دتېر اېستلو کو ښښ کوی، او غواړی چه ستاسی دزیار اوزحمت په‌معاوضه کښی تاسې ته خپلې چالاکۍ او غوړې خبری در کړی.

دې راز خلکو ته تاسو په ښکاره اوواضحو الفاظو کښی داسی ووایی‌ءچه:

راځی !تاسو مونږ سره هغو پټیو ته‌ولاړشیء !چه هلته مونږ په‌یوې کولو اودځمکی په‌اړولو بوخت یو.

یازمونږ دنورو ورونو سره سمندرونو ته‌لاړشی اوهلته په‌اوبو کښی جالونه وا چویء.

دا ځکه چه ځمکه اوسمند رلکه څنګه چه‌زمونږ دپاره فیاض دی‌ستاسوله پاره هم فیاض دی.

که‌تاسو ته‌مجلسیان اونڅید ونکی اودمان راشی ،نو دهغو مالو نه هم په قیمت واخلیء!

دا ځکه چه هغوی هم تاسو ته دمېوو خوږو الی او د ګلانو وږمې راوړی.

کوم مال چه هغوی تاسوته راوړی که څه هم‌دغه دهغوی مال او متاع دتخیل او تصور په‌نړۍ کښې جوړ اوتیار شوی وي ، لیکن‌سره ددې هم دغه دهغوی مال ستاسو دروح اوستاسو دوجود دپاره لباس او غذاده.

په کوم وخت کښی چه تاسو دباز ار نه‌بیرته خپلو کور ونو ته ځیء نو ګوریء چه کوم‌یو بیو پاری اویابل څوك خوتش لاس اومحروم نه دی پاته شوی.

داددې له‌پاره چه‌دنړۍ کارساز او ستاسو مالك په‌خپله ملکو تی فضا کښی

دننه پشتۍ پاته

په سهار کښې (دمیزان په ۱۱) داقینی سیل ته ولاړو چه زمونږ بو پخوانی سرحد دی یعنی زمونږ او اتحاد شوری پخوانی تجارت له همدې لاری کیده. داسرحد له زاړه برم نه لوېدلی واو اوس ئې ځای نورو بندرونو ته لکه کلفت سپارلی و خو دخلکو له قوله داسرحد ډېر نژدې او دبیرته په کار اچولو په اثر هیوادته داموالو دوړلو اوراوړلو دپاره د ډېر سهولت سبب کیدلای شوای مونږ له اندخوی نه دشربن تګاب له لاری راغلو چه پرلاری دقرقل لوئی لوئی رمې په مخه راغلی او دارمې ټولی دساکزو پښتنو وی چه په کوچی ډول پرا ته ؤ او داندخوی څخه نیولی ترقیصار او بالامرغاب پوری چه دهرات یوه علاقه ده ساکزی بارکزی. اڅکزی کاکړ او نور پښتانه پرا ته وچه په دې اعتبار پرمیمنه شاوخوارا گرزېدلی واو ممینه ئې محاطه بلله کېدله بله روځ مونږ المارته ولاړو او هلته مودالمار ابتدائی ښوونځی ولیداو دښه استعداد او قریحې سره بنا قیصار چیچکتو دتالقانو زاړه ښار اصحاب کهف او دښاخ دکلی دغالۍ جوړولو سیل ته ولاړو چه دهیوا د ډېری ښې او نامتوغالۍ هلته جوړ یږی. پرهمدی لار پرسیند دوه پلونه نوی جوړ شوی و چه دواړه دقیصار دنویو پلونو په نامه مشهور واو دهرات عمومی لارئې ودانوله داپلونه ځینی پر خلا صېدلو او ځینی تر نمائی رسیدلی و چه کارئې هم چټک روان و- د همدې لیدنو او کتنو په ضمن کښې دملوک دسوز او گدازملوکی دنیا هم دهېرولو وړ نه ده داملوک څوک ؤ ؟

تاسی ټولو دسیف الملوک او بدرۍ جمالی نکل اورېدلی دی او په هرزړه ئې دسوز او مینی خاطره ابدی پر ته ده د سیف الملوک قبر پر بالا حصار او د ساعت ملوک قبر د غلغلی دښار سره چه دتالقانو دزاړه ښار سره واقع دی او په همدې شان دبدرۍ تخت دسرحوض او دارم باغ هم په دغه ځای کښې موجود دی دا نکل اوس هم هلته په بل صورت موجود و یعنی ددرد خاوندان (هغه چه دډېر دوست او قریب دبېلتون سره مخامخ شوی وو) همدې قبرته راتلل او دبیلتون او فراق دگاللو دتوان خورده ئې دد وی له سرونو څخه وړه یعنی سیف الملوک په میمنه کښې له دولتمندو اوزاهدانو سره کار نه درلود مگر خپل ددرد مغازه ئی وروسته له څو قرنو نوا وس هم په! برم کښې ساتله هلته دجمال پتنگان راتلل اودده د مزار طواف کیده.

پاته په ۳٤ مخ کښې

پښتو ټولنی تازه خپرونی

۱ : لوړ خیالو نه اوژور فکرونه ـ د کل پاچا الفت اثر یو جلد په (۸) افغانۍ

۲ : داورلمبې د ښاغلی خیبری اثر یوجلد په (۵) افغانۍ

۳ : پښتانه داقبال په نظر کښی دښاغلی بختانی تدوین یوجلد په (۷) افغانۍ

٤ : منطق دښاغلی الفت اثر یوجلد په (٦) افغانۍ

۵ : افغان قاموس دښاغلی عبدالله افغانی نویس اثر یوجلد په (۳۲) افغانۍ

٦ : پښتو نثرونه دمحمددین ژواك تدوین یوجلدپه (۱۲) افغانی

۷: پریشانه افکار: دښاغلی بینوا اثر یو جلدپه (۱۰) افغانی

۸: نړۍ په دوه زرم کال کښی دښاغلی واسعی ترجمه یوجلدپه (۱۳) افغانۍ

۹ : افغان قاموس دوهم ټوك یوجلدپه (۳٤) افغانۍ

۱۰: دحنان دیوان یوجلدپه (۱۲) افغانۍ

دا کتابونه دپښتو ټولنی په پلورنځی کښې موجود دی .

کابل مجله

دامجله دپښتو په خوازه ادب ادبی تنده ماتوی .

دامجله دپښتنی دنیا دمعرفۍ یوازینۍ وسیله ده.

دامجله دتیرو او او سنیو پښتنو پرژوند ښه رڼا اچوی

تاسی کولای شیء چه داتنده په کابل کښې په (٤۰) افغانۍ په د ننه هیواد کښی په (٤٤) افغانۍ په هند کښې په (۱۲) کلداری په نورو دباندنیو هیوادونو کښی په (۳) دالره ماته کړیء

دښوونځیو زده کونکو ته په نیمه بیه .

دنوی کال داشتراك دپاره په کابل کښې همدغه بیه دپښتو ټولنی دمحاسبې مدریت ته او په ولایاتو کښې دهمدی مؤسسی دجاری شمېر (په ۷۸۷۵) لمبر افغانستان بانك ته سپارل کېږی

دولتی مطبعه